# د ذهن هنداره

لومړی چاپ




سید احمد سعادت

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library

# د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم: ———————— د ذهن هنداره

ليکوال: ———————— سيداحمد سعادت

کال: ———————— ۲۷/۵/۱۴۰۴ ل.

تصحيح: ———————— بشيراحمد کمال

داړيکي شميره: ———————— ۰۷۰۳۷۳۵۷۴۶

ډيزاين: ———————— جلال احمد ذهين

ketabton.com - The Digital Library

## ډالۍ

په لومړی سر کې دې زما ټولې کورنۍ ته ډالۍ وي په خاص ډول والدینو او زما مشر ورور ته
په دوهم قدم کې زما ټولو استادانو ډالۍ وي
او دریم قدم کې دې ټولو لوستونکو ته ډالۍ وي.

ketabton.com - The Digital Library

## فهرست

لومړی برخه: اسلامیات ........ 8
دعاګاني ........ 8
الله ج دکومو خلکو سره مینه لري او الله د کومو خلکو سره مینه نه لري. ........ 12
دوږخ ته د تلو له اسبابو ځان وساتي ........ 14
متقیان  او پرهیزګاران ........ 15
د اولاد د اصلاح اسباب ........ 17
د حجاب په اړه خو لنډې جملې ........ 18
مسلمانه! ........ 20
داخرت د ازمويني پارچه ........ 20
د مسلمانانو د برکته! ........ 21
دوهمه برخه : د پوهانو  ویناوي ........ 23
د پوهانو خبرې ........ 23
په ژوند کي عزت او کامیابي! ........ 23
پـــلار خـــوک دی ! ........ 27
دریمه برخه: ارواپوهنه ........ 27
اروپوهنه! ........ 27
د روحی او ذهنی تعادل له پاره یو څو زریني کرښي! ........ 28
ځیني نزاکتونه. ........ 31
لس ( ١٠ ) خبری په یاد ولره ........ 31
د ژوند ٦ مهمې خبري او  لارښونې ........ 32
آرواپوهنېزی غوره ويناوي ........ 32
د عزت ساتلو له پاره یو څو لارښوني ........ 33
څلورمه برخه: کامیابي ........ 35
د ژوند له تجربو څو کرښې: ........ 35
بریا د زړونو لوبه ده ........ 35
د منفي احساساتو درملنه ........ 36
هیڅکله مه تسلمیږه ........ 37
د مثبتو او منفي کسانو پرتله کول ........ 38
د ښه ژوند له پاره څو اصول! ........ 39

ketabton.com - The Digital Library

د ژوند دسختو حالاتو اړوند څو حقیقتونه! ........ 39
آرامتیا څه ده ........ 40
په ژوند کې څو ګټورې خبرې ........ 40
هغه کړني چه ستاسو شخصیت قوی کوی! ........ 41
د خاصو خلکو ځانګړې عادتونه! ........ 41
غواړي کامیابه سئ ........ 42
د کامیابی 6 عددی اسانه فرمول! ........ 44
مهمی لارښوونی: ........ 44
پرمختګ ........ 45
پنځمه برخه: کیسې ........ 46
امام ابوحنیفه ........ 46
عبرتیکیسه! ........ 47
د اقربینو او مشرانو د آدابو څخه ........ 47
د بې انصافه خاوند کیسه ........ 48
د شـــام د بایللـــو او ګـــټـــلو کیســه! ........ 50
ماخذونه ........ 55

ketabton.com - The Digital Library

**سریزه**

**الله ج په قران کریم کي فرمایلي دي:**

**ما پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي مگر د خپل عبادت له پاره مي پیدا کړي دي.**

**الله ج هغه ذات دي چي ټوله کاینات یې پیدا کړیدي او دهغوی تصرف یې هم په خپل لاس کي دي ، الله ج په ټولو مخلوقاتو کي ترټولو غوره مخلوق انسان پیدا کړیدي ، انسان ته یې عقل ورکړیدي ترڅو د الله ج او دشیطان د لاري تر منځ فرق په وپیژني.**

**داچي ننی زمانه یو پرمختللي او د میډیا زمانه ده او تقریبا هریو وه میډیا ته لاس رسی لري او په مختلفو بڼو د همدي میډیا ښخه استفاده کوي ، دا په هر فرد پوري مربوط ده چي څنگه استفاده څني کوي ، غلطه استفاده څني کوي او که سمه استفاده څني کوي .**

**کوم کتاب چي تاسو گوری دا کتاب د انټرنیټ د مختلفو سایټو او دځینو کتابو ښخه معلومات را اخستل سویدي او دلته ځای پر ځای سویدي او تر تاسو پوري در رسیدلي دي ، ددي کتاب ښخه مو هدف دادی چي د میډیا ښخه سمه استفاده وکړو او دا میډیا د ځان، کورنی، هیواد، دنیا او آخرت په نفعه استعمال کړو.**

**په یاد کتاب کي مختلف معلومات سره یوځای سویدي لکه: اسلامي ،ټولنیز...**

**په درنښت**

**سیداحمد سعادت**

ketabton.com - The Digital Library

## لومړۍ برخه: اسلامیات

### دعاګاني

۱: رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، وَتُبْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ

۲: رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ

۳: رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ

۴: رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ ۖ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا ۚ أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ

۵: رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ

٦: رَبَّنَا إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَا رَيْبَ فِيهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ

۷: رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ

۸: رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۖ إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ

۹: رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِكدِينَ

۱۰: رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ

۱۱: رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ

۱۲: رَبَّنَا إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ

۱۳: رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلْإِيمَانِ أَنْ آمِنُوا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا ۚ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ

۱۴: رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ

۱۵: رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيراً

۱٦: رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ

۱۷: رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ

ketabton.com - The Digital Library

١٨: رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ

١٩: رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ

٢٠: رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ ۖ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِي أَكُنْ مِنَ الْخَاسِرِينَ

٢١: رَبِّ أَنْتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ

٢٢: رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ ۗ وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ

٢٣: رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي ۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ، رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ

٢٤: رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا

٢٥: رَبَّنَا آتِنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا

٢٦: رَبِّ إِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنْ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا

٢٧: رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي ,وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي ,وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي ,يَفْقَهُوا قَوْلِي، رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا

٢٨: لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ

٢٩: رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ

٣٠: أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ

٣١: رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ

٣٢: رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ

٣٣: رَبَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ

٣٤: رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا

٣٥: رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا

٣٦: رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ، وَاجْعَل لِي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنْ وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ، وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ، يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ، إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ.

٣٧: رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ

ketabton.com - The Digital Library

۳۸: رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ

۳۹: رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي، رَبِّ انْصُرْنِي عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِينَ

۴۰: رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَحْمَةً وَعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ

۴۱: رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدْتَهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ ۚ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ

۴۲: رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ

۴۳: رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي ۖ إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ الْمُسْلِمِينَ

۴۴: رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ

۴۵: رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ، رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ

۴۶: رَبَّنَا أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَاغْفِرْ لَنَا ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

۴۷: رَبِّ ابْنِ لِي عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ ...وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ

۴۸: رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا، إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا

۴۹: رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا

۵۰: رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ

۵۱: اللَّهُمَّ رَبَّنَا ...ارْزُقْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ

۵۲: رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ

۵۳: الهم سخرلي کل مخلوق بي حرمت سيدال ابرار والله مستعانو على ما کسب

ketabton.com - The Digital Library

**۵۴: الهم اني اعوذبک من شر سمع من شر بصر من شر السان من شر قلب مشر مني**

**۵۵: اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ كَرِيمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي**

**...**

**اسلامي معلومات**

**په اسلام کې د میني یا اړیکو د جوړولو له پاره د الله تعالی رضا او د مشروع لارو کارول اړین دي .په شریعت کې داسې کم خاص دعا یا عمل نسته چې د چا مینه په زوره پیدا کړي .خو تاسو کولای سئ د الله تعالی په دربار کې دعا وکړئ چې ستاسو له پاره خیر وټاکي، او که هغه کس ستاسو له پاره غوره وي، نو د هغه زړه به ستاسو له پاره نرم کړي.**

**۱ .د دعا له پاره لارښوونې:**

**الله تعالی ته په اخلاص دعا وکړئ، او د هغه د رضا غوښتنه وکړئ.**

**د خپل نیت پاکول اړین دي .که ستاسو نیت د خیر وي، نو الله تعالی به ستاسو له پاره خیر وټاکي.**

**۲ .د زړه د نرم کېدو دعا:**

**لاندې دعا په تکرار سره ووایاست ترڅو د هغه زړه نرم سي او ستاسو له پاره محبت پکښې پیدا سي:**

**اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِ (فلانة بنت فلان) مَحَبَّتِي، وَارْزُقْنَا خَيْرَ مَا تُقَدِّرُ لَنَا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ.**
**ای الله !د (فلانۍ لور د فلاني) په زړه کې زما محبت واچوه او موږ ته هغه خیر راکړه چې ته یې زموږ له پاره غوره ګڼې.**

**۳ .سورة طه، آیت 39 تلاوت:**

**د لاندې آیت تلاوت وکړئ:**

**"وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي"**
**(سورة طه39)**

ketabton.com - The Digital Library

**ای الله !ماته خپل محبت راکړه او د خلکو په زړونو کې زما محبت واچوه.**

**۴ .د زړه صفا او ښه نیت:**

**په زړه کې بد نیت یا  زور کارول پرېږدئ .دا د محبت له پاره سمې لارې نه دي.**

**الله تعالی ته خپل حال بیان کړئ او دعا وکړئ چې که هغه ستاسو له پاره غوره وي، نو مینه دې پیدا کړي.**

**۵ .د عمل پر ځای پر الله توکل کړه:**

**د الله فیصلې ته رضا ورکړئ او خپل ځان ته تسلي ورکړئ چې هغه به ستاسو له پاره غوره لاره پیدا کړي.**

**یادونه:**

**مینه، محبت او اړیکې د الله د تقدیر او حکمت ځخه دي .هڅه وکړئ چې په حلالو لارو خپله اړیکه جوړ کړئ، او په زور یا جبر سره د چا محبت غوښتل په شریعت کې نه دي روا .په دعا او ښه عمل سره الله ستاسو له پاره هغه څه غوره کوي چې ستاسو له پاره مناسب وي.**

**...**

**الله ج دکومو خلکو سره مینه لری او الله د کومو خلکو سره مینه نه لری.**

**إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّبِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ  (سُورَةُ البَقَرَة ۲۲۲)**
**ژباړه :الله ج د توبه کوونکو سره مینه لري.**

**وَاللَّهُ مَعَ الصَّبِرِينَ  (سُورَةُ البَقَرَة ۲۴۹ )**
**ژباړه  :الله ج د صبر کوونکو سره دی.**

**وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ (سُورَةُ البَقَرَة ۲۷٦)**
**الله ج د ناشکران نه خوښوی.**

ketabton.com - The Digital Library

فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِينَ (سُورَةُ آل عِمرَان٣٢ )
الله ج د کافران نه خوښوی.

وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِينَ (سُورَةُ آل عِمرَان٥٧ )
الله ج ظالیمان نه خوښوی.

فَإِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ (سُورَةُ آل عِمرَان ٧٦)
الله ج د پرهیزګارانو سره مینه لري.

وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ (سُورَةُ آل عِمرَان ١٣۴)
الله ج د نیکانو سره مینه لري.

وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِينَ (سُورَةُ آل عِمرَان ١۴٠)
الله ج ظالیمان نه خوښوی.

وَاللَّهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِينَ (سُورَةُ آل عِمرَان ١۴٦)
الله ج د صابرانو سره مینه لري.

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ( سُورَةُ آل عِمرَان١۵٩)
الله ج توکل کوونکي خوښوي.

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ (سُورَةُ المَائدة۴٢)
الله ج عدالت کوونکی خوښوي.

وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ (سُورَةُ المَائدة ٦۴)
الله ج مفسدان نه خوښوی.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (سُورَةُ المَائدة ٨٧)
الله ج تیری کوونکي نه خوښوي.
...

ketabton.com - The Digital Library

ايا الله ج مينه درسره لري؟
ځان دي وګوره په کمه ډله کې يې؟
الله ﷻله کومو کسانو سره مينه لري؟

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوّابينَ
الله ﷻله توبه کوونکو سره مينه لري
إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ المُتَّقينَ
الله ﷻله پرهيزګارانو سره مينه لري
وَاللَّهُ يُحِبُّ المُطَّهِّرينَ
الله ﷻله پاکو خلکو سره مينه لري
وَاللَّهُ يُحِبُّ الصّابِرينَ
الله ﷻله صبر کوونکو سره مينه لري
إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ
` الله ﷻله نيکي کوونکو سره مينه لري

...

## دوږخ ته د تلو له اسبابو ځان وساتي

عَنِ الْمُجْرِمِينَ (۴)

د مجرمانو څخه) وپوښتي چې :

مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ (۴۲)
تاسي څه شي دوږخ ته بوتلاست؟

قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ (۴۳)

هغوی به جواب ورکړي چي موږ د لمونځ کوونکو څخه نه وو

وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ (۴۴)

ketabton.com - The Digital Library

**او مسکین ته مو خوراک نه ورکوی**

**وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَآئِضِينَ (۴۵)**

**او د حق پر خلاف د خبرو جوړونکو سره په یو ځای کېدو موږ هم خبري جوړولې؛**

**سُورَةُ المدَّثِّر**

**....**

## متقیان او پرهیزګاران

**او دا يې د آخرت بدله د رب المنان ج قول:**

**① إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ**
**(الدُّخَانِ ۵۱)**
**بېشکه متقیان به د امن په ځاي(جنت) کي وی.**

**② إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ**
**( الطُّورِ ۱۷)**
**بېشکه متقیان به په جنتونو او نعمتونو کي وي.**

**③ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ**
**( الحِجرِ ۴۵)**
**بېشکه متقیان به په جنتونو او چینو کي وي.**

**④ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ**
**( القَمَرِ ۵۴)**

ketabton.com - The Digital Library

بېشکه متقیان به په جنتونو او ویالو کي وي.

⑤ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي ظِلَالٍ وَعُيُونٍ
( المُرسَلَاتِ ۴۱)
بېشکه متقیان به په سایو او چینو کي وي.

⑥ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتِ النَّعِيمِ
( القَلَمِ ۳۴)
بېشکه د جنتیانو دپاره ددوئ د رب په نزد جنتونه د نعمتونو دي.

⑦ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا
( النَّبَإِ ۳۱)
بېشکه د متقیانو د پاره کامیابي ده.

⑧وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ
( صٓ ۴۹)
او بېشکه د متقیانو د پاره بهتر د اوسېدو) جنت(ځاي دی
...

خومره عجیبه ده په قرآنِ کریم کې په وار وار سره ویل سوي دي
لَا تَقْنَطُوْا
مه نا امیده کیږه
لَا تَهِنُوْا
مه کمزوری کیږه
لَا تَحزَنُوا
مه غمجن کیږه مه
لَا تَيْاَسُوْا
مه مایوسه کیږه مه
اطمیناني یم چې خپل رب ﷻ مې همېشه ساتونکی او
خوښي را کونکی دی
...

ketabton.com - The Digital Library

**رسول الله  صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي :هر هغه څوک چې د فرض لمونځ څخه وروسته دغه کلمات:**

**۳۳ واره سبحان الله**
**۳۳ واره الحمدالله**
**۳۳ واره الله آکبر**
**یو وار لااله الاالله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو علی کل شيء قدير ويل.**
**کهچیري ګناهونه يې د درياب يا د سمندر د ځګ په اندازه هم کړي وي ، بغير له شرک څخه ، الله جل جلاله به ورته بخښنه وکړي ( مسلم).**
**د معاذ بن جبل  رضي الله عنه څخه روايت دی ، چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د لاس څخه و نیولم او راته وې وفرمايل :معاذه!**
**قسم په الله جل جلاله سخته مینه درسره لرم ، ګوره د هر لمانځه څخه وروسته دغه دعا هېڅ وخت مه پرېږده : ( اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ).**
**ژباړه :يا الله !ستا په يادولو ، شکر  پر ځای کولو او ښايسته عبادت کې مرسته راسره وکړې.**
**( صحيح أبي داؤد الباني رحمه الله)**
**...**

**د غم او پرېشانۍ په وخت يو بل ته داړ ورکول پيغمبری طريقه ده**

**يوسف علیه السلام خپل ورور ته وويل(لا تبتئس) مه مايوسه کېږه.**
**شعيب علیه السلام موسی علیه السلام ته وويل  (لا تخف) مه بيريږه.**
**محمد ﷺ ابوبکر  رضی الله عنه ته وويل (لا تحزن) مه غمجن کېږه.**
**...**

## د اولاد د اصلاح اسباب

**که پر دې ببرېدلاست چې اولادونه او بچيان مو د اخري زمانې په فتنو او بې دينيو کې اخته نه سي نو لومړی په خپل ځان کې اصلاح او تقوا راولئ ځکه د مور او پلار اصلاح مستقیماً د اولاد پر اصلاح تأثير لري.**

**الله تعالی فرمایي:**

ketabton.com - The Digital Library

**وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا (سورة النساء ۹)**
**ژباړه :خلکو ته، ددې خبرې په نظر کښې نیولو سره ډېره کول په کار دي، چې که هغوی تر خپل ځان وروسته ډېروزله اولادونه پرېږدي؛ نو د مرگ په وخت کښې به پر خپلو اولادونو ځنگه ځورېږي؛ نو باید چې هغوی له خدایه وېرېږئ او رښتیا وینا وکړي.**

**سعید بن المسیب رحمه الله یو وار خپل زوی ته وویل :ای بچیه!**
**زه کله نا کله ستا له پاره الله ته ډېر لمونځ کوم او په دې سره الله ته امید لرم چې ښایي) دا لمونځ او دعا (ستا د اصلاح او له فتنو څخه د ساتنې سبب سي .بیا یې دا ایات ورته تلاوت کړ:**
**وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا ...الایة ( سورة الکهف)۸۲ )**
**...**

**سفیان الثوري رحمه الله یوه ورځ خپلو ملگرو ته وویل:**
**که چېرې ستاسو سره داسې یو کس شتون ولري چه خبرې مو باچا ته رسوي نو آیا تاسو به د هغه خلاف یوه خبره وکړئ؟**
**ملگرو ویل :یا**
**سفیان الثوري رحمه الله وویل:**
**نو ستاسو سره داسې فرښتې سته چه خبرې مو الله ته رسوي.**
**...**

**مجردانو ته**

**د قرآنکریم له تلاوت وروسته مو رب دعا قبلوي!**
**عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به د قرآن کریم تلاوت وکړ، له هغه وروسته به یې ږغ وکړ :مجردان چېرې دي؟ ماته رانږدې سئ او دعا وکړئ چې ای ربه !ماته داسې مېرمن راکړه چې، ورته گورم، خوشحاله سم، چې امر ورته کوم، مني یې او چې کله ځینې مسافر سم د ځان او زما د مال ساتنه کوي.**
**روضة الـمُحبّین**
**...**

## د حجاب په اړه څو لنډې جملې

**۱ :حجاب یعنې زه د هوس او وسوسې په انتي وایروس سمبال یم.**

ketabton.com - The Digital Library

**۲ :خپلو زلفو ته ورزده کړه، چې بهر د ليدلو ارزښت نه لري.**

**۳ :حجاب نيم ايمان دی.**

**۴ :د مسلمانې ښځې اصيلتوب د هغې پاک لمني ده، چې حجاب يې تر ټولو مهم رکن دی.**

**۵ :اې ښځو خپله ښکلا مه ښکاره کوی ، مگر د خپل محرم له پاره.**

**٦ :حجاب د کږ ليد د غشي سره د مقابلې واکسين دی.**

**۷ :حجاب هغه ټينګ مرچل دی، چې ښځه د شيطان صفته نرانو د کتلو څخه خوندي کوي.**

**۸ :حجاب د پاک لمنۍ د ګل ښه بوی لرونکی بوټی دی،حجاب خونديتوب دی، نه محدوديت.**

**۹ :حجاب يعنې د پاک لمنې ښځې حياء**

**۱۰ :د ښځې بې حجابي د نر د بې غيرتۍ له امله ده.**

**۱۱ :څوک چې پاک لمنې وي، نو ارزښت او مقام به يې لوړ سي.**

**۱۲ :حجاب د ښځې خوندي پټنځای دی.**

**۱۳ :حجاب د ښځې د وقار او وياړ ښکارندويي کوي.**

**۱۴ :حجاب ښځه د معنويت لوړ مقام ته رسوي.**

**۱۵ :حجاب د ښځې د کمال او ارزښت سر چينه ده.**

**۱٦ :حجاب د ښيګڼو د راکښون ځواک او له تېروتنو او غلطيو څخه د مخنيوي قوه ده.**

**۱۷ :حجاب د ښيګڼو او سپېڅلتيا مور ده.**

**۱۸ :حجاب نه پرېږدي، چې ټولنه په فساد باندې اخته سي.**

**۱۹ :حجاب مساوي کېږي د ټولنيزو زيانونو له کمښت سره.**

**۲۰ :حجاب د ښکلا او ستروالي د دوام ضمانت کوي.**

**۲۱ :د انسانيت مرغلره، تل په حجاب کې ولټوه.**

**۲۲ :درنې خورې د خپلو وينو سور والی مې ستا تور حجاب ته په امانت پرېښود ).د شهيد پيغام.(**

**۲۳:حجاب هغه کلکه وسله ده، چې په هغې سره ښځه کولای سي، د خپلو حقوقو او ارزښتونو څخه دفاع وکړي.**

**۲۴ :درنو خويندو !ستاسو حجاب زما د سرو وينو په پرتله ډېر ځيونکی دی ) د شهيد وصيت.(**

**۲۵ :د حجاب سره ښکلې اوسېدل تجربه کړئ.**

**۲٦ :حجاب يو فرهنګ دی، چې شهيدان هم پرې وياړي.**

**۲۷ :حجاب دومره ارزښت لري، لکه اوبه.**

**۲۸ :حجاب د انسان د شخصيت ښښه ده.**

**۲۹ :درنې خورې !ستا حجاب ارزښت دی، نه بانه.**

**۳۰ :حجاب د الله ﷻ له لوري ښځې ته يوه ښکلې ډالۍ ده...**

**...**

ketabton.com - The Digital Library

**مسلمانه!**

**ته څه فکر کوې؟!**

**هغه رب العالمين چي د نوح عليه السلام قوم په اوبو کي غرقولای سي،**
**هغه رب العالمين چي د هود او صالح عليه السلام قومونه په باد او نورو عذابونو هلاکولای سي،**
**هغه رب العالمين چي دلوط عليه السلام قوم په مځکه ننويستلای سي،**
**هغه رب العالمين چي فرعون او د هغه مست لښکر په بحر قلزم کي غرقولای سي،**
**هغه رب العالمين چي ابوجهل او په لسگونه نور د عصر فرعونان په بدر کي هلاکولای سي.......**
**هغه رب العالمين چي شوروي اتحاد ړنگولای سي،**
**هغه رب العالمين چي لدغي خاوري څخه د نړيوالو سترو قدرتونو لښکري په خجالت ايستلای سي.**
**هغه رب العالمين دا قدرت هم لري، چي د فلسطينيانو او نورو مظلومو مسلمانانو دښمنان هم خوار او ذليل کړي.**
**هغه رب العالمين دا قدرت هم لري، چي د هر مسلمان فرد انتقام واخلي........**
**نوټ :مسلمان بايد د محکوميت پر وخت مايوس او د حاکميت پر وخت مغرور نسي.**
**نعمت الله شاکر**

**...**

## داخرت د ازمويني پارچه

**مسلمانانو! د اخرت د امتحان پارچه به مو داسې وي**

**لومړی برخه:**

**د قبر درې سوالونه:**

**۱ : ستا رب څوک دی؟**

**۲ : ستا دين کم دی؟**

**۳ : ستا پيغمبر څوك دی؟**

**دوهمه برخه:**

**د قيامت د ورځې پنځه سوالونه:**

ketabton.com - The Digital Library

۱: خپل عمر دې چېرې تېر کړئ؟
۲: ځواني دې په کومو کارونو کې تېره کړه؟
۳: مال دولت دې له کومه تر لاسه کړئ؟
۴: چېرې دې خرڅ کړئ؟
۵: په خپل علم باندې دې څومره عمل وکړئ؟

یادونه : ایا ستاسې د مدرسې، مکتب یا پوهنتون پارچه داسې کېدای سي چې تاته سوالونه در معلوم هم وي او بیا هم امادګي نه ورته نیسې؟
که مو جواب هو دې.
نو بیا ولې د اخرت امتحان ته امادګي نه نیسو؟...
...

## د مسلمانانو د برکته!

په نړۍ کې لومړنی د کیمرې اختراع کوونکی:
ابن الهیثم
په نړۍ کې لومړنی کلیزې جوړونکی:
عمر خیام
د جراحې عملیاتو څخه مخکې د ناروغ بې هوش کولو طریقې وړاندې کوونکی:
زکریا الرازی
د الجبر ایجاد او معرفي کوونکی:
موسیٰ الخوارزمي
په 1759 کې د شامپو اختراع کوونکی:
محمد
په څمکه باندې د زلزلې د راتللو لومړنی ساینسي استدلال بیان کوونکی:
ابن سینا
د کالیو او څرمن رنګ کول او د ښیښې د جوړولو له پاره د مګنیزیم ډای اکسایډ استعمال او پیژندونکی:
ابن سینا
د فولادو جوړولو طریقې جوړوونکی:
ابن سینا
د مصنوعي غاښونو لګولو طریقه او معرفي کوونکی:

ketabton.com - The Digital Library

**ابوالقاسم الزهراوي**

**د ګرو غاښونو سیده کولو او د غاښونو د استخراج کولو طریقه او معرفي کوونکی:**

**ابوالقاسم الزهراوي**

**په نړۍ کې د درملو یا دوا جوړولو علم معرفي کوونکی:**

**ابن سینا**

**د جاذبې دقیقه اندازه او میتودولوژي معرفي کوونکی:**

**عمر خیام**

**د سترګو، پزې، غوږو او سترګو د جراحي په واسطه علاج کولو طریقه:**

**ابو القاسم الظهرو القاسم الزهراوي**

**په جراحي کي د دریو مهمو وسایلو استعمال معرفي کوونکی:**

**ابوالقاسم الزهراوي**

**علم عداد او د عصري ریاضي بنسټ ایښودونکی:**

**یعقوب الکندي**

**ناروغ ته د ورکونکو درملو د دقیق مقدار ټاکوونکی:**

**یعقوب الکندي**

**په سترګو باندې د رڼا ناوړه اغیزې بیانوونکی:**

**زکریا الرازی**

**د رڼا سرعت تیزوالی د غږ په سرعت باندي انکشاف کوونکی:**

**البیروني**

**د ځمکې، سپوږمۍ او سیارو حرکتونه او د هغوی ځانګړتیاوې روښانه کوونکی:**

**البیروني**

**د شمالي قطب او جنوبي قطب د سمت ټاکلو له پاره اوه لارې ټاکونکی:**

**البیروني**

**په علم ارضیات کي د مغرب والو د ژبو خخه د بابا ارضیات یادیدونکی:**

**ابن سینا**

**هایډروکلوریک اسید، نایټریک اسید جوړولو طریقې بیانوونکی:**

**ابن سینا**

**د کیمیاوي موادو په جوړولو او اختراع کې د بابا کیمیا په نوم یادیدونکی:**

**ابن سینا**

**د رڼا انعکاس او په لیدو کې د retina مرکزي کردار:**

**ابن الهیشام**

**د سیارې حرکت دقیق تعیین ترسره کوونکی:**

ketabton.com - The Digital Library

ناصر الدين طوسی

دوی ټول مسلمانان ساینس پوهان دي.

...

## دوهمه برخه : د پوهانو  ویناوي

## د پوهانو خبرې

۱: حقیقي شر، د هغه چا څخه پیدا کیږي چې یو وخت نیک وي

قیصر بافیزي

۲: د هوښیار سړي سره یوه خبره د کتاب تر 10 کاله مطالعې غوره ده.

هینري واډسورت لانګفیلو

۳: د قضایي سیستم فساد د هېوادونو پایښت له منځه وړي.

ابن خلدون

۴: د یو فرد په پرمختګ کې لومړی خنډ کورنۍ ده.

تولستوی

۵: ډیری وختونه هغه خبرې چې تاسو یې له ویلو بیره لرئ، هغه خبرې دي چې باید وویل سي!

جورج برنارد شو

...

ستا راتلونکی ژوند هغه څه دی چې ته یې د خپلو انتخابونو، هڅو، او باورونو پر بنسټ جوړوې .که نن مثبت ګامونه پورته کړې، نو سبا به یې پایلې وګورې.

...

د یوه عالم څخه پوښـــتنه وسوه` ,چې غرور څه ته وایي`؟ عالم وویل :کله چې د خاورو څخه جوړ انسان خپل حد او اصلیت هېر کړي غـرور بلل کیږي!.

...

## په ژوند کې عزت او کامیابي!

لاندي ویناوي د پوهانو د لارښوونو څو نموني دي ممکن ځیني کسان ځني پائیدمند سي.

ketabton.com - The Digital Library

۱ : هېڅکله  چاته د ناستي پر مهال لاس مه ورکوه بلکي که عذر نه لري نو د روغبړ د پاره ولاړېږه
۲ : که څوک پر تا باور وکړي او راز درسره شریک کړي، هغه راز وساته.
۳ : که څوک کوم شی ستا د استفادې له پاره امانت درکړي لکه موټر او داسي نور نو  په صحیح طریقه او جور يې بېرته ور وسپاره.
۴ :که څوک کار در وسپاري نو په مینه او شوق يې ترسره کوه، یا يې مه کوه.
۵ : د لاس ورکولو پر مهال لاس ټینګ ونیسه او د شخص سترګو ته ګوره.
٦ : په  یوازیتوب کي سفر مه کوه.
۷ : یواځې مځکه مه ګروه بلکي د هري خبري د پاره  دلایل  ښکاره کړه.
۸ : د مشورو اورېدلو عادت په ځان کي جوړ کړه، ترڅو په ژوند کي پرمختګ وکړي.
۹ : کله چي په درد کې خط لیکې، پای ته يې ورسوه، وې وایه، بېرته يې خراب کړه، او بیا يې په ارامو مغزو ولیکه.
۱۰ :خپل مقاصد ولیکه او کار وربانديي وکړه.
۱۱ :خپل نظر وساته ؛ خو د مخالف نظر لرونکو سره د زغم او  د درناوي رویه کوه.
۱۲ :خپل خپلوان مه هېروه؛ هغوی ته زنګ وهه او ورځه.
۱۳ : پر  هيڅ پېښه افسوس مه کوه، بلکي د هري پیښي څخه درس واخله.
۱۴ : عزت او وفا  په خپل شخصیت کي وساته.
۱۵ : هغه چا ته پور مه ورکوه چي په پوهیږي بیرته  يې نه درکوي.
١٦ : د باور له پاره معیار ولره او پر هغه معیار باور لره.
۱۷ : سهار چي د خوب څخه را پورته سوې  خپله  بستره خپله ټوله کړه.
۱۸ : خپلي وړتیاوي پیدا کړه او ګټه ځني واخله.
۱۹ : د خپل کار سره مینه وکړه او يا يې پرېږده.
۲۰ : کله چي ضرورت لري د نورو څخه کومک وغواړه دنیا یو په بل چلیږي.
۲۱ : حد اقل یو چا ته یوه کوچنۍ ګټوره خبره ور زده کړه.
۲۲ : له هغو کسانو څخه مننه وکړه چي ستا سره مرسته وکړي.
۲۳: د همسایه سره مهربانه اوسه.
۲۴ : د بل په ښه ورځ خوشحاله سه الله تعالی به ستا ورځ هم در ښه کړي.
۲۵ : خپلي روغتیا ته پاملرنه کوه.
۲۶ : همیشه په خندا دوستانو ته ښه راغلاست وایه د تروش تندي څخه ځان وساته.
۲۷ : فکر ژر کوه خو خبري په کراره کوه.
۲۸ : په ډکه خوله  خبري مه کوه.
۲۹ : خپل بوټونه پاک کړه، نوکان غچي کړه یعني همیشه پاک او منظم ګرځه!
۳۰ : په هغو موضوعاتو کي نظر مه ورکوه چي نه په پوهېږې.

ketabton.com - The Digital Library

۳۱ : هيڅکله څوک مه ازاروه!
۳۲ : داسي ژوند وکړه لکه نن چي دي وروستۍ ورځ ده.
۳۳ :په مجلس کي چوپتيا ښه فرصت دی هيڅکله يې د لاسه مه ورکوه.
۳۴ : د يو چا زارۍ او زحمتونه منه.
۳۵ : عاجزي کوه، که څه هم هميشه نه وي.
۳۶ : د بېړي څخه ځان خلاص کړه.
۳۷ : د خپلي کاميابۍ په تمه اوسه !هېڅکله مه تسليمېږه.

مولوي عبدالهادي حماد ١٦ جمادی الثانية ١۴۴٦ هق
...

عبرتناکه خبري
إبن القيم رحمه الله وايي:
څلور شيان بدن ناروغه کوي:
۱: ډېري خبرې کوُل.
۲: ډېر خوب کوُل.
۳: ډېر خوراک کوُل.
۴: ډېره کوروالي کوُل.

څلور شيان بدن د منځه وړي:
۱: ډېر سوچ.
۲: ډېر غم.
۳: خوراک نه کول.
۴: د شپې دخوا خوب نه کوُل.

څلور شيان د مخ نور ښکلا له منځه وړي:

۱: درواغ ويل.
۲: بې حيائي.
۳: د بې علمه خلکو څخه ډېرې) د دين پر اړه ( پوښتنې کوُل.
۴: ډېره گناه کوُل.

ketabton.com - The Digital Library

**څلور شیان د مخ نور ښکلا زیاته وي:**

**۱: پرهېز گاري.**
**۲: وفا.**
**۳: عزت /قدر داني.**
**۴: مینه /محبت کؤل.**

**څلور شیان رزق ډېره وي:**

**۱: تهجد (د شپې لمونځ کؤل)**
**۲: دسهار پر مهال ډېر استغفار ویل.**
**۳: دومداره خیرات کؤل.**
**۴: د ورځې په اول او آخر کې، مسنون ذکرونه ویل.**

**څلور شیان غریبي نستي راولي:**

**۱: د سهار تر لمونځ وروسته خوب کؤل.**
**۲: لمونځ نه کؤل.**
**۳: بل چاته دوکه ورکؤل.**
**۴: په ورځني ژوند کې سستي کؤل..**
**...**

**ملگري ته ډاډ ورکول:**
**امام ابن حجر رحمه الله ویلي :کله چي څوک خپل کوم ملگرى خپه او پریشانه ویني؛ نو مستحبه ده چي هغه ته ډاډ ورکړي او داسي خبري ورته وکړي چي د هغه غم لیري او خوشحاله سي.**
**(فتح الباري جـ۹ صـ۳٦۳).**
**...**

**یوه عالم څه ښه ویلي دي:**
**ټول انسانان مړه دي ژوندي هغه دي چي علم ولري.**
**ټول عالمان بیده دي، ویښ هغه دي چي عمل ولري.**

ketabton.com - The Digital Library

ټول عمل کونکي په تاوان کي دي، ګټمن هغه دي چي اخلاص ولري.
ټول اخلاص لرونکي په خطره کي دي، کامیاب هغه دي چي له تکبره پاک وي.
داکترستوری
...

## پــــلار خــــوک دی !

۱: وجود یی رحمت دی
۲: ژوند یی نعمت دی
۳: خبر یی حکمت دی
۴: غوصه یی نصیحت دی
۵: رږغ یی اُلفت دی
٦: کتل یی برکت دی
۷: په کور کی دننه وحدت دی
۸: د کورخخه بهر عزت دی
۹: ورسره تلل شرافت دی
۱۰: خدمت یی عبادت دی
...

هدیره هم عجبه ځای دی
نه جنګ، نه نفرت، نه غیبت،نه حسد،نه دښمني،او نه سپکاوي.
بس هر سړی خپل غم، خپل عمل، او خپل حساب.
...

## دریمه برخه: ارواپوهنه

## ارواپوهنه!

۱: چې پریشانه(خوابدی) یې پرېکړه مه کوه.
۲: چې پوهېږې ناوخته دي نو تلوار مه کوه.
۳: که څوک در باندي ګران دي ژر مه ورته وایه پریه ابړده چی خپله پوه سي.

ketabton.com - The Digital Library

۴ : چې ډېر خوشاله یې چاته وعده مه ورکوه.
۵: که چا دي زړه در مات کړي د نورو څخه یې قسات مه اخله.
٦: که د چا څخه خوابدی سوې تر شا بد مه پسي وایه ، شاید یو وخت بیا ورسره پخلا سې.
۷: او که ستا زړه پاک دئ ، دا معنی نلري چې د ټولو زړونه دی ستا په شان وي.
...
دا خبره باید تل په یاد وساتو چې ژوند به همېشه پر مونږ مهربانه نه وي، او همېشه به زمونږ د پلان او هیلو مطابق نه ځي .داسې ورځې به راځي، چې له ناکامۍ او ستونزو څخه به ډکې وي، ممکن ډېر مو ودردوي، زړه مو در مات کړي، او هر څه ناشوني او ستونزمن ښکاره کړي.
خو په داسې حالت کې هم، یوازینی ریښتنې ماته؛ تسلیمیدل او نا امیده کیدل دي.

لار به سخته وي او راتلونکی به تت او تیاره معلومیږي، خو یوازینی چاره به همدا وي چې یو قدم پسې بل قدم واخلو، او امید ولرو چې دا سختی او تیارې به پای پیدا کړي او سهار به راسي.
...

## د روحی او ذهنی تعادل له پاره یو څو زرینی کرښې!

کله مو چې احساس وکړئ چه د ځانځخه مو بد رازی،نو حمام وکړئ.
کله مو چې احساس وکړئ خلک درڅخه نفرت کوی خوب وکړئ.
کله مو چې احساس وکړئ چې تیر وخت مو سم نه دی تیر کړی نو د راتلونکی له پاره مو پلان جوړ کړئ.
کله مو چې احساس وکړئ چه د خلکو څخه مو بد رازی خوراک وکړئ.
که چیری مو احساس وکړئ چې غوره جملې مو ویلی،نو په ذهن کې یې د ساتلو له پاره یې ولیکئ.
که چیری مو احساس وکړئ چې نور یی بایلم،نو باید دخپلو خپلوانو خبری در په یادي کړئ.
...
هغه عادي کارونه چې د امله یې د خلکو مینه درسره پیدا کیږی!
۱: خلکو ته په کوچنیو او خوړو نومونو ږغ ورکوه،په دی سره دهغوی په زړه که ستاسو له پاره خوږ حس پیدا کیږي.
۲: کلکه سترې مسی وکړئ،د مقابل طرف لاس ته کرار ټکان ورکړئ او ژر یی لاس مه ایله کوئ.
۳: کله چې میلمه سوی نو بی ځایه شکایتونه او د خلکو غیبت مه کوئ.
۴: د خپل ځان په اړه خلکو ته وضاحتونه مه ورکوئ،پریږده چې مخاطب مو خبري وکړئ.
۵: د خلکو د ظاهری غوره کړنو څخه تعریف وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

**٦: د خبرو پر مهال د سترګو تماس قایم کړئ او د هغه د خبرو په تایید واړه کلمات وکاروئ.**

**...**

**د ګران ارواپوه اشرف الدين عظيمي صاحب (د ژوند 1000 خبرې مه وایه ووایه )کتاب څخه درسره یو څه شریکوم:**

**مه وایه چې زموږ څخه هیڅ نه جوړیږي!**
**ووایه هر انسان یو ځانګړی استعداد لري!**
**مه وایه چې موږ د غریب زامن یو!**
**ووایه دنیا د شتو خزانه ده!**
**مه وایه دعا می نه قبلیږي!**
**ووایه حتما د قبلیدو وړ نده!**
**مه وایه چې ماته یی خوړلی!**
**ووایه تجربه لري!**
**مه وایه بد نه یم!**
**ووایه ښه یم!**
**مه وایه چې ښه کول په درد نه خوري!**
**ووایه مینه له حافظې څخه نه پاکیږي!**
**مه وایه څوک می نه درک کوي!**
**ووایه چې یوازې یو څو کسه ما پیژني!**
**مه وایه دا کار ولې زما سره وسو!**
**ووایه حتماً خیر پکښې کې وو!**
**مه وایه موږ د خوار زامن یو!**
**ووایه شتمني مو کمه ده!**
**مه ووایه اینجانب!**
**ووایه موږ!**
**مه وایه چې خلک به څه وایي!**
**ووایه چې خلک خو هر څه وایي!**
**مه وایه چې تنګ نظره!**
**ووایه هر شي ته په پراخ نظر ګوره!**
**مه وایه چې د پلار نیکه رواج ساتم!**
**ووایه هغوی د یوې زمانې خلک وو او زه د بلې!**
**مه وایه چې ته بیخی نه پوهیږې!**

**ووایه هر څوک د خپلې زاویې څخه رغیږي!**
**مه وایه چې تا ته په تمه یم!**
**ووایه زه هم خپله تر هغه وخته کوښش کوم!**
**مه وایه چې څومره ګڼه ګوڼه ده!**
**ووایه هر څوک زما غوندې کار لري!**
**...**

**۱: دخلګــو سره یــې دخلګو پرنیتــو مکــوی دنیافاني ده!.**
**۲: د حیا پرته ښکلا بې بویه ګل دی!.**
**۳: بدنامه اوسه خو د بنده غلام مه جوړېږه.**
**۴: هره سخته د انسان له پاره د الله ج یوه ازموینه ده!.**
**۵: که څوک غلط کار ته غلط نه سي ویلای ؛ نو د غلامي لوړه درجه یې ترلاسه کړې ده.**
**٦: او که څوک غلط کار نه پېژني نو د جهالت لوړ مقام یې ګټلی دی.**

**...**

**۱: د دښمن خبرې مو هېرې کړئ، خو د دوست سکوت مو مه هېروئ.**
**۲: انسان د حقیقي ستونزو دونده نه ځوریږي، لکه څونده چې د خپلو خیالي ستونزو له امله.**
**۳: چوپه خوله او سوچ د ډېرې لویې ستونزې حل راباسي.**
**۴: له هېچا سره د دوستۍ او ملګرتیا تارونه مه پریکوئ، د وخت او مطلب ملګري مو خپله پرېږدي.**
**۵: همدا اوس هغه خلک هېر کړئ چې تاسو یې هېر کړي یاست.**
**٦: هېڅکله هم هغه خلک او شیان په لوړ قیمت مه رانیسئ چې ارزښت یې صفر وي.**
**۷: یو سالم انسان هېڅکله هم د نورو د ځورولو اړتیا نه لري.**
**...**

**۱: د هغه ځا څخه لیري اوسه چې ستاسو سره ډېر بحث کوي.**
**۲: هیڅکله دهغه ځا په خاطر غم مه کوه چې ستاسره مینه نه لري.**
**۳: غواړې چې هر څوک ستا څخه وبیریږي ډېر مه خانده.**
**۴: تاسو غواړئ ددوی افکار ولولئ یوازې غوږ ونیسئ او ډیري خبري مه کوئ.**
**...**

ketabton.com - The Digital Library

**ځینی نزاکتونه.**

**د یو کس زیات بخښل پرلپسی بی احترامي منځته راوړی.**
**د هیچا په ژوند پوری مه خاندئ،ځکه وخت دومره قدرت لری چي همدغسی حالت پر تاسی هم راولی.**
**هروخت ځان پوره مه ښایاست،ځکه له نورو غوره والی ترټولو ډیر خاموشه دښمنان منځته راوړی.**
**یووالی مو ځواک دی،خو دا هم ومنه چه سل دانی پسونه نسی کولای یو زمری ته ماته ورکړی.**
**که وغواړی کولای یې سی چي ورسیږي خو که د خلکو پر ځای د خدای څخه مرسته وغواړی.**
**سقراط به تل ویل وایی که له ۱۰ منزل څخه راولویږی او که له ۱۰۰ څخه درد یوشان دی نو ښه به دا وی چه له لوړی برخی څخه سقوط وکړی.**

**...**

**هلکان په لاندې څلورو حالاتو کې ډېر ژاړي:**

**۱: کله چې د والدینو ژړا ویني.**
**۲: کله چې مور یا پلار د لاسه ورکړي.**
**۳: کله یې چې خور واده کېږي.**
**۴: او کله چې د دوی د خوښې کس ورسره اړیکه پرېږدي.**

**...**

**هیڅوک ستاسو سره ریښتینې مینه نه کوي او نه یې ستاسو ملتیا ته اړتیا وي،بلکې یوازې ستاسو د پېژندلو تلوسه ورسره وي.**
**په هغه ورځ یا شپه چې د دوي پر وړاندې د خلاص کتاب په شان سي،او د دوی تلوسه ختمه سي،**
**په هماغه شېبه به ستاسو ټول وقار او ارزښت ورسره ختم سي،او هغوی به خپله لار ستاسو څخه جلا کړي او یوازې به مو پرېږدي.**

**...**

**لس ( ۱۰ ) خبری په یاد ولره**

**۱: په لاره کی خوراک مه کوه**
**۲: پرغریبانو باندي خندا مه کوه**
**۳: خپل ملگری چاته کم مه راوله**
**۴: دخلکو سره خیانت مه کوه**

ketabton.com - The Digital Library

۵: د مور او پلار خبرې منه
٦: هرې خولې ته غوږ مه نیسه
۷: هر غوږ ته خبرې مه کوه
۸: راتلونکی پلان دې پټ ساته
۹: ډېره خندا او خبرې مه کوه
۱۰: خپل دین مه هیروه
...

د یو نسل جهالت؛
د دویم نسل رواج، او د درېیم نسل عقیده جوړیږي
...

## د ژوند ٦ مهمې خبرې او لارښونې

۱: کله چې یوازې وې ، د افکارو سره دې فکر کوه.
۲: کله چې د ملګرو سره وې ، د ژبې سره دې فکر کوه.
۳: کله چې په درد کې وې ، د حوصلې سره دې فکر کوه.
۴: کله چې د یوه مجلس خلکو په منځ کې وې ،د چلند سره دې فکر کوه.
۵: کله چې په مشکلاتو کې وې ، د احساساتو سره دې فکر کوه.
٦: کله چې الله تعالې دربانديې رحمت وکړ ، د غرور او تکبر څخه ځان ساته.
...

## آرواپوهنېزې غوره وېناوې

۱: هڅه وکړه چې هوښیار و اوسئ،ځکه چې قسمت اکثره وخت ټک ټک کوي.
۲: د پیسو انتظار مه کوئ تر څو تاسو ته خوښې درکړي.
۳: تر هغه وخته چې مو ښه دنده نه وي پیدا کړي اوسنۍ دندې څخه لاس مه اخلئ.
۴: هڅه وکړئ چې د مځکې پر مخ تر ټولو با احساسه او ګټور انسان و اوسئ.
۵: هیڅکله چاته مه وایه چې خفه یې.
٦: په دې پوه سئ کوم خبرونه چې اورې ټول سهې ندي.
۷: کله چې د ماشومانو سره بازۍ کوئ پرېږدی چې ماشومان ګټونکي سي.

ketabton.com - The Digital Library

**۸: د غوسې په حال کې یو کار هم مه کوئ.**

**...**

## د عزت ساتلو له پاره یو څو لارښونې

**۱: هغه شخص مه یادوه چې ته یې هېر کړي یې.**
**۲: دهغه چا سره هیڅ وخت خبري مه کوئ چې ستا خبرو ته غوږ نه نیسي.**
**۳: په هغه چا پسې مه ژاړه کوم څوک چې ستا د ژړا په ارزښت نه پوهیږي.**
**۴: په هغه چا باور مه کوه چې څو واري يې درسره خیانت کړی وي.**
**۵: مه د چا سپکاوی کوئ او مه د چا سپکاوی منئ.**
**٦: د هغه چا له پاره ځان په تکلیف کړه تر کومو پښو لاندي چې جنت دی (مور)**

**...**

**ژوند که ښه وي که بد تېرېږي.**
**که خفه یې که خوشحاله تېرېږي.**
**که جوړ یې که ناجوړ تېرېږي.**
**خو تر ټولو سخت پر هغه چا تېرېږي چې هیڅ هیله نه لري، له هیلې مې مطلب دا دی چې، مونږ ناشکره یو پر خشي ناشکره یو پوهېږئ؟**
**د یو کس څخه پوښتنه وسوه قسمت چشي ته وایي؟**
**هغه ورته وویل په نړی کې د ځلورو زرو څخه زیات دینونه دي نو زه په دوئ کې اللّٰه پاک مسلمان پیدا کړی یم.**
**نو فکر وکړه چې ولې مونږ په خپل ژوند کې راضي ونه اوسو.**
**که مونږ خوشحاله اووسو نو ژوند ډېر ژر تېرېږي.**
**که خفه اووسو بیا هم ډېر ژر تېرېږي.**
**که منتظر پاته سو په ځنډ تېرېږي.**
**که د هر ډول حالاتو سره مخ سو نو ژوند خامخا تېرېږي.**
**که نور څه نه یي، دا چې مسلمان او د نبي علیه سلام امتیان یو، نو دا ډېره غوره خبر ده، راتلونکي ته اندېښني مه کوئ کار وکړئ او د خدای پاک رضا ترلاسه کړئ.**
**فِکر**

**...**

ketabton.com - The Digital Library

**د هر ښکلي انسان په اړه چې ته فکر کوې، هماغه یوه ډېره خاصه ځانګړنه لري .دا داسې نه ده چې هغه خپل وریښتان څه ډول جوړوي، څه اغوندي او یاهم ظاهري ښکلا یې بشپړه ده، بلکې ښکلا یې د وجود دننه پرته ده، ژوندی کس وي او نړۍ ته خپلې نوې نظریې او کارونه وړاندې کوي او همدې ته ښکلا وايي.**
**وزن، اندام، قد، بڼه، مخینه او د پوستکي رنګ یې اړین نه دی؛ که چیرې یو کس بیدار واوسي، د بل چا تقلید ونکړي او سپیڅلې عقیده ولري، نو دې ته اصلي ښکلا وايي.**

**فِکر**

**...**

**په ژوند کې تل هر څه هغه نه وي، چې سترګې یې ویني .ځینې وخت موسکا تر ټولو ژورې دښمنۍ پټوي، او ښایسته الفاظ تر شا تریخ حقیقتونه لري .ریښتینې ملګرتیا او صداقت یواځې د خبرو په ښکلا نه، بلکې د زړونو په صفاوالی کې نغښتې وي.**

**...**

**که ته ځوان یې، نو پوه سه چې وخت تر ټلو وروسته نه راګرځي .هره شیبه د راتلونکي تهداب دی، هره پرېکړه ستا لاره ټاکي او هره هڅه تا د بریا یا ناکامۍ خوا ته بیایي.**
**ځواني غره ته د ختلو په څېر ده، نه سایې ته د ناستې.**
**اې ځوانه د ژوند سختۍ ته غاړه کېږده، تجربې او زده‌کړه وکړه، بیا ښېرته راپورته سه .مه ښېرېږه، مه ستړی کېږه او مه د نورو د خوښۍ له پاره ځان غلام جوړوه .خپله لاره وپیژنه، خپلې هڅې ته دوام ورکړه او تل یاد ولره چې تر ټولو لویه شتمني ستا هڅه، هوډ، او صداقت دی.**
**خبره مې دا کوله چې، ځواني تېرېږي، خو که ته یې سمه وکاروې، نو ستا نوم، شخصیت او شان به پاته کیږي .**

**فِکر**

**...**

**ایا تاسو کله پام کړې دی چې مور مړی څونده په درناوې سره پر تخت (چارپایي) ایږدو ...غسل ورکوو ...کفن ورکوو ...پر اوږو یې اخلو ...حال دا چې دا یوازې یو بدن وي، روح خو لا دمخه الوتې وي...**
**خو!...**
**مور یو ژوندی انسان، چې هم بدن لري او هم روح، دونده درناوی، ادب او محبت نه ورکوو ...خپل لهجه نرمه وساتئ ...د خپل وجود څخه خلکو ته سکون ورکړئ..**

**...**

ketabton.com - The Digital Library

## څلورمه برخه: کاميابي

### د ژوند له تجربو څو کرښې:

۱: که حوصلې د غرونو په شان لويې او لوړې هم وي خو بيا هم بې منطقه او بېشعورو خلکو ته ختمېږي.
۲: بې دليله زړه تنګون هغه ناروغي ده چې د نړۍ تر نيمايي زيات خلک په اخته دي.
۳: ډېر کله ارامي او سکون په دې کې دی چې د يو څه وخت له پاره د (هر چا او هرڅه) څخه لرې و اوسو.
۴: کله چې د جيب وزن سپک سو نو د ملګرو او نږدې خپلوانو په ګډون به ډېر څه لکه هيلې، اميدونه او داسې نور د لاسه ورکړې.
۵: خلک ،خلک ژر هېروي؛ خپله مو وليدل چې څونده ډېردرته ګران وه خو څونده ژر هېر سوه.
٦: ټول وبخښئ خو د هيلو او ارمانونو قاتلين مو هېڅکله مه بخښئ.
۷: تر ټولو عاجز او بې وسه هغه څوک دی چې مقصر (ملامت) نه وي خو بيا هم منت کوي او بخښنه غواړي.
۸: دلته که سل سم صحيح قدمونه واخلې او که يو غلط قدم واخلې، خلک دې هغه سل صحيح قدمونه نه يادوي خو هغه يو غلط قدم به د هر وخت يادوي.
۹: سفر خو هغه خوندور سفر وي چې همسفر دې د خوښې کس وي.
۱۰: تر ټولو ښه جمله (دا وخت به هم تېر سي) .
۱۱: په قسمت او نصيب مې هغه وخت باور پيدا سو چې کله مې هم څوک يا يو شی د زړه له تله غوښتي خو له ډېر زيار او هڅو سره سره مې بيا هم په لاس نه دي راوړي.
۱۲: چيري چې دي قدر او ارزښت نه و، هلته يوه دقيقه هم مه پاته کيږه.
۱۳: تمه د زندان هغه زولنې دي چې په خپله يې خپلو لاسونو او پښو ته ور اچوو.
۱۴: ژوند ښې ورځې لري، د افسوس خبره دا ده چې انسان د انسان څخه ښه ورځ نه ده ليدلې.
حسيب نورمل
...

### بريا د زړونو لوبه ده

۱: بريا هغه څوک نه ويني چې يوازې خوبونه کوي؛ بلکې هغه څوک يې ګټي چې خوبونه په عمل بدلوي .ژوند يو ميدان دی، او بريالي هغه دي چې د بيرې پر ځای هڅه کوي.

ketabton.com - The Digital Library

۲: هره ستونزه چې نن ورسره مخ یې، سبا د بریا له پاره پل دی .که چیرې ستا زړه وایي چې ته کولای سې، نو پوه سه چې ته به بریالی یې.
۳: مه هیروه !غرونه یوازې هغه چا ته تسلیمېږي چې د زړورتیا قدم پورته کړي .خپل فکرونه لوړو ته پورته کړه، ځکه یوازې لوړ فکرونه لویې موخې گټي.
۴: ته د خپل برخلیک جوړونکی یې، په خپل ځان باور وکړه او نړۍ ته ځان وښایه!.

....

## د منفي احساساتو درملنه

**غوسه**

د خپلې غوسې لامل پیدا کړئ.

پر ساه اخیستلو مو تمرکز وکړئ.

لږ پیاده مزل وکړې او ځان آرام کړئ.

**خپگان:**

یو گیلاس چای وڅښې.

په ژړا سره خپل زړه سپک کړې.

خپل احساسات ولیکئ او زړه مو تش کړې.

**شرم:**

د ځان سره مینه کول تمرین کړئ.

د یو ملگري سره مو خبرې وکړئ.

د ځان سره مثبتې خبرې وکړئ.

**اندیښنه:**

ژوره ساه واخلئ.

نرم نرم ورزشونه وکړئ.

...

که هڅه ونه کړئ، هیڅ څه نه بدلیږي

ketabton.com - The Digital Library

ذهن دي له منفي سوچونو او" نسم کولای "خبرو پاک کړه او وګوره چې څه ته لېوالتیا لرې، په کوم کار کې ښه یې، په هغه ځای کې چې اوس ژوند کوې څه داسې نوي شیانو ته اړتیا ده چې شتون نه لري او ځای یې تش دی .په لنډ ډول، د هر شي په هکله چې نظر لرې کولی سې را سربیره یې کړی او ځان مخکښ کړی.
او دا هم مه هېروه چې ټول بریالي خلک یو وخت له ډېر لږ څه پیل کړی، تر څو د نن ورځې بریالي خلک سي.
له نن څخه منفي سوچونه او منفي انرژي بنده کړه، ځکه په دې سره یوازې ځان ته زیان رسوې نور هیڅ نه.
تر دې مخکې چې د نن ورځې افسوس او ارمان وکړې، خپل ځان ته وګرځه، یو لاره پیدا کړه او خپل ځان ته خپله وړتیا وښایه.

...

## هیڅکله مه تسلمیږه

کتاب یو الهام‌ببخښونکي اثر دی، چې لوستونکو ته د زغم، حوصلې او نه تسلیمېدو درس ورکوي.
۱: د ژوند سختۍ تا ماتولای نه سي، مګر ستا تسلیمېدل به تا مات کړي.
۲: هره ستونزه یوه موقع ده، چې تا لا پیاوړی کړي.
۳: بریا د هغو کسانو ده چې د ماتې په وخت کې هم نه تسلیمېږي.
۴: د ژوند طوفانونه یوازې هغه ونې ښوروي، چې ریښې یې کمزوري وي.
۵: که ته د ناکامۍ بیره لرې، نو د بریا خوند به هېڅکله و نه څکې.
کتاب انسان ته زړورتیا ورکوي، ترڅو د ژوند له ستونزو ونه ببرېږي او تل د پرمختګ پر لور ګام واخلي.
...

د ژوند څو کوچني درسونه
۱: په هر کار کې اعتدال وکړئ.
۲: د اړتیا څخه زیات مصرف مه کوئ.
۳: کمزورو او د پخو خلکو سره مرسته وکړئ.
۴: صادق اوسئ او خبرې مو په ریښتینولې ولاړې وساتئ.
۵: د نورو په کارونو کې لاسوهنه مه کوئ.
۶: د سختو او تندو خبرو پر وړاندې سپکاوی مه ښکاره کوې او خلکو ته د بدمرغۍ او ناروغۍ هیله مه کوئ.
۷: د خیر له پاره هڅه وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

۸: د بحث پر مهال ځان کنټرول کړئ.
۹: د نورو د برياوو په اړه ښه او مثبت نظر ولرئ.
۱۰: د خپلو ستونزو او ناروغيو لامل په خپل ځان کې ولټوئ.
۱۱: د ښو کارونو په ترسره کولو کې د بدلې تمه مه لرئ.
۱۲: له منفي احساساتو او زيان رسوونکو تړاوونو ځان خلاص کړئ.
...

## د مثبتو او منفي کسانو پرتله کول

تل پلان لري.
تل بهانې لرې.
ځان د حل برخه ګڼي.
ځان د ستونزو برخه ګڼي.
د هرې ستونزې له پاره لاره پيدا کوي.
د هرې لارې له پاره ستونزې پيدا کوي.
ملګرتياوې زياتوي.
دښمنۍ زياتوي.
وايي، راځه هر څه ممکن دي.
وايي، دا ناممکن دي.
ستونزې په حوصله سره حلوي.
په قهر سره ستونزې ډېروي.

...

پر ځان باور هغه وخت رامينځته کيږي کله چې
۱: تاسو په ورين تندي د نوي شيانو زده کړه کوئ.
۲: د ځان سره په کړو وعدو عمل کوئ.
۳: د بيرې او شک سره سره بيا هم اقدام کوئ.
۴: د خپلو ناکاميو او غلطيو څخه درس اخلئ.
۵: چې خپل شا او خوا مو له فعالو او ملاتړو ملګرو څخه ډکه کړې وي.
٦: کله چې يو کار د پلان سره سم پر مخ نه ځي، د ځان ملامتولو پرځای، په خپل ځان مهربانه ياست.

ketabton.com - The Digital Library

۷: د داسې ننګونو سره ځان مخ کوي چې وړتیاوې مو در تقویه کوي.
۸: د نورو سره د پرتله کولو پرځای، تاسو پر خپل ځان تمرکز کوی.
۹: خپل نظر ته د نورو په نظر ترجح ور کوي.
۱۰: خپلو وړتیاو او مهارتونو ته متوجه کیږي، د هرې کوچنۍ بریا او لاسته راوړنې له پاره ځانته انعام ورکوي.
...

## د ښه ژوند له پاره څو اصول!

ځان د نورو سره مه پرتله کوئ.
د هر څه څخه یو شی زده کړئ.
دوه غوږونه دوې سترګې او یوه خوله د یو دلیل له پاره.
هڅه وکړئ چې په خلکو کې ښه واوري ښه وګوري او ښه ووایاست.
په فکر کې ستونزې مه ږیږیوی
پر پرمختګ تمرکز وکړئ نه پر پایلو.
تعریف یې کړئ چې بریالیتوب ستاسو له پاره څه معنی لري؟
د ځان څخه دا وپوښتئ، ایا دا ضروري ده؟

...

## د ژوند دسختو حالاتو اړوند څو حقیقتونه!

۱: که تاسو چېرې دا ومنئ، چې سخت حالات او یا شرایط د ژوند یوه برخه ده، نو دا د دې سبب کېږي، چې تاسو د ژور خپګان سره مخ نسي.
۲: د ځان له پاره یو سالم لېد لوری غوره کړئ.
په ژوند کې دسختو حالاتو راتلل په دې معنا نه دي، چې تاسو بدبخته یاست، بلکې دا یوه امتحانی دور دی، چې تاسو د یوې سترې بریا او پرمختګ له پاره آماده کوي .د ځان آماده کول که څه هم یوه ستونزمنه پروسه ده، خو بیا هم د سترو تحولاتو او بریاوو لار همدا ده.
۳: د ژوند سخت حالات مو درته واقعي دوستان او ملګري در پېژنئ، او هغه کسان چې تاسو سره خپل وخت تېروي، هغه هم درپېژنئ.
۴: د ژوند سخت حالات مو درته هغه ملګري چې ستاسو په هدف باندې مئین دي، تاسو ته در وپېژنئ.
۵: ښه، غوره او نوي نظریات او آبډیاګاني، د ژوند په همدغه سختو حالاتو کې رامنځ ته کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

٦: ځینې وختونه الله تعالی خپل بنده په آمتحان کې اچوي، تر څو تاسو راوېښ او خپلو دنیوي او آخروي اهدافو لورې ته متوجه یې.

...

## آرامتیا څه ده

چې کورته راسی او پلار دی بیده وی
بخت دادی
چې د هغه چاسره واده وکړئ چې مینه ورسره لری
سکون دادی
چې د مور د لاس ډوډۍ خورې
پیاوړتیا داده
چې مشر ورور دې پالنه او ساتنه کوی
خوشحالي داده
چې خور دي قدر او خدمت کوي

...

## په ژوند کې څو ګټورې خبرې

۱: که څوک درسره په سوداګرۍ کې شراکت کول غواړي، نو د هغه سره په یوه غاب کې خوراک وکړه .که هغه ښه خواړه خپل ځان ته زیات اخیستل، نو پوه .سه چې په سوداګرۍ کې به هم زیات اخلي .که تا ته یې زیات درکول، نو ورسره سوداګري وکړه.
۲: که څوک درسره دوستي کول غواړي، نو ورسره په عامه ټرانسپورټ کې سفر وکړه .که ده د کرایې د ورکړې شخه ځان کښی، نو پوه سه چې یوازې د ګټې دپاره دوستي در سره کوي.
۳: که څوک درسره واده یا بله کمه نژدې اړیکه جوړول غواړي، نو د ده یو شي ته ضرر ورسوه، لکه د ده بوټونه ور خراب کړه، یا یې عینک لږ ور و ښوروه . که یې ژر خپل شی قیمتي یاد کړی، نو پوه سه چې دی د اړیکې پر ځای مال ته ارزښت ورکوي.
۴: که تجارت لرې او څوک درڅخه پور غواړي، نو ډېر لوړ نرخ ورته ووایه .که یې د قیمت دکمولو هڅه ونکړه، نو پوه سه چې پیسې ادا کول نه غواړي، نو پور مه ورکوه.

ketabton.com - The Digital Library

**۵: که څوک په هره دوهمه یا دریمه خبره قسم اخلی، نو پوه سه چې درواغ وایي، ځکه دی قسمونه یوازې د خپل درواغو د سمولو له پاره اخلي.**
**٦: که ستا دوست خپله کومه بده کړنه ستا څخه پټوي، نو مه ورته وایه چې تا ته هر څه در معلوم دي، ځکه که دا دې ورته وویل، نو بیا به هغه بده کړنه ستا ومخته ته هم کوي.**
**۷: د ماشومان د بدو کارونو څخه د بیرولو له پاره د پیري جن، بلا، یا حیوان نوم مه کاروه، ځکه چې کله پوه سي چې دا خیالي خبرې وې، نو بیا به په نور بد کارونه پیل وکړي .هغوی د الله یا د دوزخ له عذابه وه بیروی، ځکه چې دا حقیقت لري او ټول عمر ورسره پاته کېږي.**
**۸: د ماشومانو هره غلطي مه جزا کوه، ځکه چې دا به د دوی ذهن داسې وروزي چې دوي کله لوی سي، نو به د هر غلط کار کوونکي سره جنګ کوي، چې ټول عمر به یې په جنګو تېرېږي.**
**۹: د خپلو والدینو سره د خپلو ماشومانو په مخکې ډېر محتاط اوسه، ځکه ستا چلند به سبا ستا اولاد هم خپلوي.**
**۱۰: که د ټولنې کوم کار درته بد ښکاري، نو پخپله یې مه کوه.**
**...**

## هغه کړنې چه ستاسو شخصیت قوی کوی!

**۱: هیڅکله هم هغه چاته بیرته مه ورګرځی چه خیانت یی درسره کړی وی.**
**۲: هیڅکله هم په ناستی د یو چاسره سترګی مسی مه کوی.**
**۳: هیڅکله هم د توجه د جلب له پاره ځان په بیچاره ګی مه اچوه.**
**۴: کله چې یو چا پوښتنه در څخه وکړه له 1 ـ ۳ ثانیو وروسته جواب ورکړه.**
**۵: د اړیکو د جوړښت له پاره چاته زاری مه کوه.**
**٦: شخصی نظم مراعات کړی.**
**۷: په جواب ورکولو که دقیق اوسی،خصوصا د سترګو په ربط کي.**
**۸: هرڅوک کمزوریانی لری نو، کمزوریانی دی ومنه.**
**۹: تل تر فکر کولو وروسته تصمیم نیسه**
**ذِهن**
**...**

## د خاصو خلکو ځانګړی عادتونه!

ketabton.com - The Digital Library

**۱: دوی معمولا تر عادی خلکو ډیر خاموشه وی؛ سمارټ خلک تل کوښښ کوی چه یو ښه اوریدونکی اوسی نه بی هدفه ږغیدونکی.**

**۲: ځانګړي خلک دعوی او جنجالونه نه کوی، بلکی په خپل جرت او منطقي دلایلو سره مقابل طرف ماتي منلو ته قانع کوی.**

**۳: ځانګړي خلک ډیر کم نږدی ملګری لری، ځکه دوی نه غواړی چه هر کوڅه دربه او بد سړی ددوی وخت ور ضایع کړی.**

**۴: ځانګړي افراد ډیری مغلقی او د حالاتو مطابق ژوري پوښتنې کوی، چه مقابل طرف په دی مجبوروی چه نور نسی کولای خپله اصلی څهره څني پته کړی.**

**۵: د ځانګړو خلکو لوستل خوښیږي؛ ځکه دوی پوهیږی چه دا د مصروفیت او د نړی له حالاتو څخه د خبریدو غوره لاره ده.**

**ډاکتر ساواش**

**...**

**کوچنۍ جملې، لوی اثرات**

**زه ډېره بخښنه غواړم چي په تکلیف مي کړی.**

**ایا پر تاسو خو به بده نه وي لګېدلې؟**

**ستاسو څخه ډېره مننه.**

**پر اورېدونکي باندي داسي ژوره اغېزه پرېږدي، چي مونږ ته يې شاید احساس هم نه وي، خو په حقیقت کي به مونږ د خلکو زړونو ته لاره پیدا کړ وي.**

**ولیم جیمز وایي**

**د انسان فطرتي اړتیا دا ده چي د هغه ستاینه وسي.**

**د نورو د ښېګڼو، پراخ زړورتوب، او د ښو خویونو په اخلاص او صداقت سره ستاینه وکړئ.**

**جان ډیوي وایي**

**ځان مهم احساسول او مهم غوښتل، د انسان فطرتي اړتیا ده!**

**د خلکو ښېګڼي ومنئ، د دوی اخلاص ته ارزښت ورکړئ، د هغوی نیکي وستایئ.او په بدل کي به تاسو ته هغه ټول څه درکړل سي، چي تل مو يې هیله درلوده!**

**...**

## غواړي کامیابه سئ

**۱: بهانه مه کوئ.**

ketabton.com - The Digital Library

بهانه کول ځان ته دوکه ورکول دي .ځان ته درواغ ویل دي او خپله د خپل ځان خطایستل دي .دا د کامیابو خلکو کار نه دی .کامیابه خلک بهانې نه کوي.

۲: ځان جامع الکمالات مه غواړئ.

هیڅ انسان په یوازي توګه پوره نه دی .هر انسان ښیګڼې او بدۍ لري .که تاسې غواړئ، چې په هره برخه کې استاد اوسئ او له هر پلوه پوره اوسئ؛ نو دا ناکه ځان خطایستل دي .دا کار امکان نه لري.

هیڅ انسان پوره نه دی، خو هر انسان تر ښو هم ښه پریکړه کولای سي .خپلې وړې وړې غلطیانې په ښه کړئ او د سمون له پاره یې همدا اوس لاس پکار سئ .بریالیتوب له همدې ځایه پیلیږي.

۳: بیره له زړه وباسئ.

اکثره خلک آن خپل ځان هم په تمامه مانا نه پیژني .هغه په دې مانا، چې دوې له خپلو شته وړتیاو هم ناخبره دي او تل د کمترۍ احساس کوي .په مجلسونو کې سره له دې چې د ویلو له پاره ښه نظر لري، خو د ویلو جرائت نه کوي .دوې د اشتباه کولو بیره لري.

دا بیره د زړه څخه وباسئ .باجرائته اوسئ او خپلې وړتیاوې درک کړئ.

۴: په هر شي د کنټرول درلودلو هڅه مه کوئ.

د ژوند هره برخه او هر حالت زموږ په کنټرول کې نه دی .تاسې د هر شي د کنټرول هڅه مه کوئ .دا تاسې ته بریالیتوب نه درکوي؛ بلکې تشویش، اندیښنه او خپګان درکوي.

۵: تنګ نظري مه کوئ.

بریالي خلک همیشه خلاص ذهنیت لري .دوې هرې نوې پوهې او نویو معلوماتو ته په ورین تندې هرکلی وایي. تنګ نظري او هغوې چې که ووایم ذهن یې قلف وي د نویو شیانو او نویو معلوماتو د زده کولو هڅه نه کوي .دا خلک تل ناکام وي.

٦: منفي فکر درلودونکي خلک د خپل ژوند څخه لرې کړئ.

هغوې چې منفي ذهنیت لري او همیشه ناهیلې وي، په ژوند کې تل ناکام دي .که تاسې د داسې خلکو سره ناسته پاسته لرۍ، دا خلک مو د ژوند څخه لرې کړئ .ځای یې مثبتو او رغونکو خلکو ته ورکړئ.

۷: همیشه د (هو) ویلو عادت پریږدئ.

وایي، چې د مخ پوستکې مې نرۍ دی .چاته (نه) نسم کولای .خو دا کار ښه نه دی .بریالي خلک نورو ته د (نه) ویلو په هنر پوهیږي .د هغوې چې کوم کار نه خوښیږي، نورو ته وایي، چې په دې برخه کې مرسته نه سم در سره کولای!

...

څه باید وکړو څه باید ونه وکړو

۱: پور داسي نوم دی، چي عزتمند سړی هم ذلیلوي.

۲: شهرت او ځان غوښتنه د کوچني ذهن کار دی.

۳: لږ ویل او چپوالی انسان د احترام تر منزله رسوي

۴: غوسه بد عادت دی، بلکي انسان بربادوي.

ketabton.com - The Digital Library

۵: چيري چي نيکي وي، بدي هم وي در څراغ لاندي همیشه تاريکه وي
٦: بزګر چي څه کري، هغه ريبي.
۷: کوم شیان چي ضرر رسوي، د هغه څخه پرهيز کوه.
۸: عقلمند هغه دی، چي لږي خبري کوي او ډير اوريدل کوي.
۹: د يتيم په مخ کي د خپل مور او پلار په اړه څه مه واياست، کیدای سي تر دي زيات غمجن سي.
۱۰: د يوه لاروي په څير ژوند وکړه او تل تر شا ښه خاطرات پريږده، موږ په نړۍ کي د ميلمنو په څير يو او ميلمانه د سفر څخه ماسيوا، بله لار نه لري.
ګلزار
...

## د کامیابی 6 عددی اسانه فرمول!

۱: سخت کار کول HARD WORK سخت کار یعنی د پلان او حالاتو مطابق مخ پر وړاندې تلل.

۲: قربانی ورکول SACRIFICE هیڅ شی هم په خوب او استراحت لاسته نه راځی، بلکې په همت او د یوڅه د لاسه په ورکولو سره لاسته رازی.

۳: مبارزه STRUGGLE بی مبارزی کامیابی غوښتل داسی معنا لری لکه په یخ کي ایسکریم خوړل.

۴: باور، ایمانFAITH/؛ څومره مو چه په ځان او هدف باور زیات وی، په هماغه اندازه یی د لاسته راوړلو امکان هم ډیریږي.

۵: صبر PATIENCE امپراطوری په یوه ورځ نه جوړیږی، نو باید صبر ولرئ.

٦: جذبه، هیجان PASSION څومره چه د یوڅه د لاسته راوړلو سخت هیجان او زړه که ورسره مینه او جذبه ولری، په هماغه اندازه کولی سی هدف ته دی په ښه ډول نژدی سی.
...

مهمی لارښوونی:

دوخت بي ځایه نه تیرول، کمي اړیکي وپالي ،هدف ولري . تاسو باید یوه سی چي ژوند اسانه

**ندي خواري غواړي  دهغه چاسره ضد مه کوه چي ستا څخه مخکي دي. ځني زده يي که چي بريا سنکه لاسته راځي.**

**کوم څه چي کول غواړي  ترلاسه يي کړي**
**په عمل کي يي ثابته کړه.**

**دهغو احسان ومني چاچي يواځي پري ابنبي ياست. ځکه هغه دادر ذده کوي چي سنکه پرخپلو پشو ودريژي.**
**هيلي مو ژوندۍ وساتي پرخپل ځان باور ولري تاسو ګټونکي ياست**
**همت د لاسه مه ورکوي**
**تاسو کولاي سي خپلي هيلي په رشتيني توکه پوره کړي. کله چي تاسو دخپلو هيلو له پاره سخت کار وکړي**
**...**

**ګيلي مه کوي..**

**دخپل مور جانی اوپلار جان قدر اواحترام وکړي دهغو دزړه ازار مه اخلي**
**هيڅکله داسي فکر مه کوه چي ستا سره ولاړ خلک به ټول ستا همفکره وي.**
**ژر باور مه کوي.**
**صبر ولري.**
**تاسو به يوه ورځ هتمن ګټونکي سي**
**يواځي مو پرځان باور اوصبر ولري**
**معصوم خان**
**...**

**پرمختګ**

**يومهم ټکي چي ستاسو دپرمختګ مخه يی نيولي او تر اوسه شاته پاته ياست، هغه دادي چي تاسو دژوند له پاره هدف نه لری، تاسو بايد په خپل ژوند که داسي يو هدف ولري چي دهغه له پاره د زړه څخه کار وکړی.**

**خومهمي لارښووني!**
**۱: دخلکو تعقيب پريژدي.**
**۲: بيځايه وخت تيرول پريژدي.**

ketabton.com - The Digital Library

۳: دمیډیا څخه مو استفاده کمه کړي.
۴: دخپل هدف د لاسته راوړلو له پاره زیات کوښښ وکړي.
۵: دخلکو په خبرو پسي مه ګرځی.
یوازی فوکس پرخپل هدف وکړي!
معصوم خان
...

## پنځمه برخه: کیسې

## امام ابوحنیفه

د امام ابو حنیفه رحمه الله د ذهانت یو زړه راښکونکی واقعه
یو ځل له امام ابو حنیفه رحمه الله څخه د یوه داسې شخص په اړه پوښتنه وشوه چې وایي:
زه نه د جنت هیله لرم،نه د دوزخ څخه ویرېږم،نه د الله تعالی ویره لرم،زه مردار خورم،زه بې له قرائت، رکوع او سجده څخه لمونځ کوم،زه د هغو شیانو شاهد یم چې ما نه دي لیدلي،زه د حق څخه انحراف کوم،زه فتنه خوښوم.
د امام صاحب شاګردانو وپوښتل حضرت د داسې شخص حکم څه دی؟
آیا دا سړی مسلمان کېدای سي؟
امام ابو حنیفه رحمه الله وفرمایل هو دا شخص مسلمان دی، ځکه چې دی ( يَرْجُو الله، لا الجَنَّةَ ) یعنې د الله تعالی امید لري، نه د جنت .هغه ته د الله تعالی رضا مهمه ده، نه جنت .هغه د الله تعالی له عذاب څخه بیرېږي، نه له دوږخ.
هغه د الله تعالی بیره نه لري، یعنې دا مطلب لري چې دی نه بیرېږي چې الله تعالی به پر ده ظلم وکړي.
مردار خوړل یعنې دی کب او ملخ خوري.
بیله  قرائت، رکوع او سجده څخه لمونځ کول یعنې د جنازې لمونځ ادا کوي.
د نه لیدل شویو شیانو شاهد کېدل یعنې دی د الله تعالی وحدانیت، جنت او دوزخ شاهدی ورکوي.
د حق نه خوښول یعنې دی مرګ نه خوښوي، حال دا چې مرګ حق دی.
او د فتنې خوښول یعنې دی د اولاد او مال سره محبت لري، چې دا دواړه فتنه او ازموینه ده.

فَقَامَ السَّائِلُ وَ قَبَّلَ رَأْسَهُ، وَ قَالَ " :أَشْهَدُ أَنَّكَ لِلْعِلْمِ وِعَاءٌ".

ketabton.com - The Digital Library

**دا ټول ځوابونه اورېدلو وروسته، پوښتونکی سړی ولاړسو، د امام صاحب تندی يې مچ کړ، او ويې ويل" :زه شهادت ورکوم چې تاسو د علم خزانه ياست.**

**الاشباه والنظائر مع الحموی جلد ۸ صفحه ۳٦۸ باب الفن السابع، الحکایات والمرسلات.**

**...**

**عبرتيکيسه!**

**إمام شافعي رحمه الله وايي:**
**د يمن طرف ته په سفر وتلي وو، ملګري هم راسره وه، د ماښام ډوډۍ مو پر دسترخوان کښېښودل، موږ د ماښام د لمانځه د اداکولو له پاره ولاړ سوو، ډوډۍ اماده وه، خو ډوډۍ مو پرېښودل او لمونځ مو اداکړ.**
**په خواړو کي دوه چرګان هم وه، موږ لمونځ کوئ، ګيدړه راغلل او يو چرګ يې حمله او وځغلوئ، کله چي لمانځه څخه فارغه سوو، نو چرګ مو ډېر ارمان سو، موږ سره وويل :ډوډۍ يې راباندي ودرول.**
**موږ سره ګډ وو چي ګيدړه بيا راغله، په خوله کي يې چرګ دئ، موږ يې د ليري څخه وينو، نو چرګ يې زموږ څخه يو څه ليري وغورځوئ او ښه ليري ورڅخه ودرېدل، موږ چرګ ته وروځغستل، نو ګيدړه وتښتېدل، موږ چي چرګ ته ور ورسېدلو، هغه چرګ نه و، ټوکر و، خو داسي پېچل سوئ و لکه چرګ ;خو چرګ نه و.**
**موږ په خندا سوو، په دې وخت کي ګيدړه ورغلل او دوهم چرګ يې هم يووړئ او ورسره ويې تښتوئ، ګيدړي موږ خطا ايستلو ;حال دا چي زموږ سره ستر ستر علماء راسره وه، خو بس په نصيب کي مو چرګان نه وه.**
**حياة الحيوان الکبری/الدميري.**
**Hamid Afghan**

## د اقربينو او مشرانو د آدابو څخه

**د حضرت فاطمې رضي الله عنها تر وفات وروسته امير المؤمنين حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه د خولة بنت جعفر بن قيس الحنفية سره واده وکړئ، نو د هغې څخه يې يو زوی پيدا سو چي محمد نوم يېورباندي کښېښووئ، نو ده ته به محمد بن علي ويل کېدل .مګر خلکو د دې له پاره چي د فاطمې رضي الله عنها او د دغه دوهمې مېرمني د اولادونو ترمنځ فرق وکړي، دغه زوی ته به يې محمد بن الحنفية ويل او په همدې نامه سره مشهوره سو.**

ketabton.com - The Digital Library

حضرت حسن او حضرت حسین رضي الله عنهما پر محمد بن الحنفیة رحمه الله تعالی تقریباً لس کاله مشران وه .محمد بن الحنفیة د خپل پلار په څېر په آس سپرېدی، پهلوانۍ او سختۍ کي رالوی سو او پلار به یې نوموړی خطرناکو او سختو جګړو ته استوئ.

ځینو کسانو یوه ورځ ورته وویل:

ولي ستا پلار تا داسي سختو ځایونو ته استوي چیري چي ستا دوه وروڼه حسن او حسین رضي الله عنهما نه استوي؟

نوموړي په ډېر فصاحت او عجیب انداز سره جواب ورکړ:

ځکه زما دوه وروڼه زما د پلار سترګي او زه یې لاس یم، نو هغه خپلي سترګي په خپل لاس ساتي.

فکر وکړه !د خپل ځان تر فضیلت څنګه تېر او د خپلو دوو وروڼو فضیلت یې څنګه ثابت کړ؟ !او د خپل پلار له پاره یې څنګه عذر بیان کړ؟ !او څنګه د چغلګرۍ په دام کي و نه لوېدئ؟!

دارنګه د ده وینا، د هغې لنډیز او عجیب والی ته فکر وکړه!

یو ځل د ده او د حضرت حسن رضي الله عنه ترمنځ اختلاف رامنځته سو، نو نوموړي حضرت حسن رضي الله عنه ته ولیکل:

أما بعد :بېشکه الله تعالی تا ته پر ما باندي بهتري او فضیلت درکړی، ځکه ستا مور فاطمة بنت رسول الله صلی الله علیه وسلم ده او زما مور د بنو حنیفة د قبیلې څخه یوه ښځه ده .د مور له طرفه ستا نیکه د الله عزوجل رسول او د مخلوقاتو بهترین کس محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم دئ او د مور له طرفه زما نیکه جعفر بن قیس دئ .هر کله چي زما دا لیک در ورسېدئ نو ما ته راسه او صلح راسره وکړه تر څو پر ما باندي فضیلت او بهتري په ټولو شیانو کي ستا په برخه سي.

هر کله چي حسن رضي الله عنه د نوموړي خط ورسېدئ نو د هغه کور ته ورغلئ او صلح یې ورسره وکړه.

نوموړی دومره ځیرک وو چي فضیلت او بهتري یې ټول د خپل ورور له پاره وګرځول او نوموړی د صلحي له پاره ور وړاندي نه سو تر څو فضیلت دی ترلاسه کړي، بلکي دا فرصت او موقع یې هم خپل ورور حسن رضي الله عنه ته ورکړ او هغه یې خبر کړ.

رضي الله عنه و عن إخوته و عن آل البیت الأطهار ما تعاقب اللیل و النهار ، و صلی الله وسلم و بارك علی نبینا محمد و علی آله و صحبه.

سیر أعلام النبلاء للذهبي

...

## د بې انصافه خاوند کیسه

ketabton.com - The Digital Library

وابي چې يو ځوان په ډېرو زاريو او خواريو د يوه حکيم سړي لور سره واده وکړ، له واده کولو يې دوه مياشتې نه وې تيرې سوې چې ځوان خپلو نژدې ملګرو ته شخصي ميلمستيا وکړه او د بازار څخه يې تيار حلال کړی روغ پسه او دوه منه ۱۴کيلو وريجې راوړې او خپلې ښځې ته يې وويل :دا لوی ديګ را واخله، د دې پسه په نس کې وريجې پخې کړه چې نن زما ډېر خواږه ياران راځي.

د دغه ځوان ښځه چې تازه يې واده تير سوی ؤ، ډېرې حيرانه سوه ځکه تردې دمخه يې چيرې روغ پسه نه و پوخ کړی او نه يې د پسه په نس کې وريجې پخې کړې وې، خو مجبوره سوه خپل خاوند ته يې وويل :په روغ پسه کې وريجې پخولو باندې نه پوهيږم ليکن ساده وريجې او غورمه پخولای سم.

ددې خبرې په اورېدو سره ځوان د غوصې څخه تک سور سو او په قهرجنه لهجه يې خپلې تازه واده سوې ناوې ته وويل :چې د پسه په نس کې وريجې نه سې پخولای نو د پلار کورته ولاړه سه اخلې پخلی زده کړه بيا راسه .

له دې خبرې سره سم ځوان خپله ښځه پخ موټر کې کښينوله او د خسر کور ته يې ورسوله.

د انجلۍ پلار چې کله دروازه خلاصه کړه زوم يې تر سلام کلام وروسته ورته په ډېرې بې باکۍ سره وويل :دا سودا؟ !مو بيرته در واخلئ، لور ته دې د پسه په نس کې د وريجو پخولو او نورې د اخلې پخلې طريقې ور ښوئ بيا يې خلکو ته ودوئ .د انجلۍ پلار چې حکيم او ډېر هوښيار سړی ؤ، خپل زوم ته يې وويل :سمه ده بچيه موږ ته دوې مياشتې وخت راکړه ترڅو خپلې لور ته د اخلې پخلې ټول اړين ماډلونه ور زده کړو بيا يې خپل کور ته بوزه.

دوې مياشتې وروسته چې کله ځوان د خپل خسر کورته ورغلی ترڅو خپله ښځه بوزي، نو د خسر څخه يې پوښتنه وکړل چې آيا خپلې لور ته مو د اخلې پخلې ماډلونه ورښوولي که يا؟ خسر يې ورته وويل :هو بچيه، مونږ خپله خواري ترسره کړه هرڅه يې زده کړل .ځوان خپلې ښځې ته وويل :راځه چې ځو، خو د انجلۍ پلار ورته وويل :ځوانه لږ صبر وکړه زما لور هرڅه زده کړي دي، ليکن ددې له پاره چې تاسو يې زما ترمخه پخلی وګورې او تجربه يې کړې اړينه بولم چې همدلته يې په يوه پسه باندې تجرباتي پخلی هم وخورې.

د انجلۍ پلار ولاړی يو پسه يې راوستی خپل زوم ته يې چاړه ورکړه ورته يې وويل :بچيه دا پسه حلال او د پوسته وکاږه چې زما لور يې درته په هماغه طريقه چې ته يې غواړې پوخ کړي.

ځوان لږ خجالته غوندې سو او خپل خسر ته يې وويل :زما خو د پسه حلالول او د پوسته کښل نه دي زده .دلته نو حکيم سړي ورته وويل :چې داسې ده نو ته هم خپل کور ته ولاړ سه اول سړيتوب او د پسه حلالول زده کړه بيا راسه خپله ښځه دې هم بوزه.

په همدې اساس ځوانانو ته په کار ده چې په خپل کورني ژوند کې د ژوند د ملګرې)ښځې (څخه د هغې د سويې پورته خدمت مه غواړې ترڅو يې په دې رقم سره ځانته کمه راولې، ځکه هيڅ انسان له عيب څه خالي نه دی، نو ددې پرځای چې د خلکو پر لور او خور کې عيبونه پيدا کړئ خپل عيبونه مو اصلاح کړئ.

يوه نيک سړي څخه پوښتنه وسوه چې ته ولې د خلکو عيبونه نه بيانوې؟ هغه ورته جواب کې وويل :زه خپله پوره نه يم ځکه د نورو عيبونه راته نه ښکاري.

الله جل جلاله دې موږ تاسو ټولو ته دښځو سره دښه سلوک توفيق راکړي.

...

ketabton.com - The Digital Library

**يوه کس به هر ورځ په هوټل کې سهارنۍ ناشته خوړله نو يوه ورځ يې پام سو چې يو سړی په ګڼه ګوڼه کې د پيسو ورکولو پرته ووتی.**
**په سبا يې بيا هم هماغه کس وليد، چې د پيسو د ورکولو پرته د وتلو هڅه کوي نو ژر يې د هوټل خاوند ته ځان ور ورساوه او خبره يې ورته وکړه.**
**هوټلي وخندل او ويې ويل:**
**پرېږده يې وروسته به يې خبري وکړو**
**هغه کس د تل په شان په ګڼه ګوڼه کې ځان ويستی .ده، چې کله سهارنۍ ناشته وخوړل د هوټل د خاوند يې د علت پوښتنه وکړه**
**جواب يې ورکړی:**
**»هغه هميشه دهغه چم کوي او دا يواځې ته نه يې چې و دې ليدی بلکې زما ډېرو مشتريانو هغه ليدلی او دا موضوع يې را سره شريکه کړې ده خو زه فکر کوم، چې د پېرېدونکو د ډېروالي يواځينی علت همدا کس دی ځکه هغه هر سهار راځي او د هوټل د باندې ولاړ وي او په زړه کې دعا کوي، چې ګڼه ګوڼه ډېره سي تر څو وکولای سي هوټل ته ننوځي خواړه وخوري او ووځي تر دې چې خدای يې دعا قبوله کړې او خلک ډېر سي په دې توګه هم د هغه کار کېږي او هم زما.**

**...**

**د شـــام د بايللــو او ګـټـلو کيسـه!**

**شام يا د ( انبياوو خاوره) د اسلامي نړۍ هغه مهم جز دی چې د حرمينو له مبارکې خاورې وروسته تر ټولو لوړ مقام او حيثيت لري .دا خاوره مسلمانانو د ابوعبيده بن الجراح، خالد بن وليد، عمرو بن العاص، شرحبيل بن حسنة رضی الله عنهم د اتلوليو او د يرموک او اجنادين د درنو قربانيو په قيمت راخپله کړه.**

**وروسته شام د اموي خلافت مرکز سو، له همدې ځايه د شرق او غرب پر خوا د فتوحاتو لښکرې ليږل کيدلې، دمشق له اندلسه، تر کاشغر او قفقازه د بريمنو لښکرو د قومندې مرکز وو .پر اسلامي نړۍ د صليبي او تاتاري يرغلونو په وخت کې هم دا سيمه د اسلامي امت وروستی سنګر وو .دلته لکه څنګه چې د زنګيانو او ايوبيانو توري د صليب پر وړاندې د اسلام د دفاع له پاره وچلېدې، په عين جالوت کې سلطان قطز د ) جيش التتار لاتقهر (روايت مات کړ او د چنګيزيانو زوال پيل شو.**

ketabton.com - The Digital Library

شام لکه ځنګه چې د فتحو او اسلام ساتنې د مبارزو مرکز و، د علم او ثقافت په ډګر کې هم تر چا وروسته نه و، د خورا سترو محدثینو، فقهاوو، مؤرخینو، صوفیانو او ادیبانو نومونه له همدې خاورې سره تړلي دي چې دلته یې له تفصیل تیریږو.

شام یا سوریه وروستیو پیړیو کې شاوخوا ۴۰۰ کاله د عثماني خلافت تر واک لاندې پاتې سوه .د عثماني دولت د ضعف او سقوط په جریان کې، چې اسلامي امت ته له غرب څخه د ملتپالنې افکار راغلل، په شام کې د عربي ملتپالو خوځښت پیل سو، د دې حرکت بنسټګر د صلیبي مستشرقینو هغه محلي شاګردان وو، چې اکثره یې په قوم عرب او په عقیده مسیحیان یا له نورو غیر اسلامي فرقو سره تړلي وو.

په شام کې د قومي فعالیتونو پیل د کلتوري ټولنو په بڼه وشو، لکه د" النهوض العربی "ټولنه چې په ۱۹۰٦م کې په دمشق کې جوړه شوه او د" العربیة الفتاة "ټولنه چې په ۱۹۱۱م کې په پاریس کې تاسیس او وروسته دمشق ته ولیږدېده او هلته یې تر ۱۹۲۰م پورې فعالیت درلود.

د ملتپالو خوځښتونو په لړ کې په ۱۹۱۳م کال کې په پاریس کې لومړنی عربي ملتپال کنفرانس جوړ سو، دا په داسې حال کې چې دغه وخت په واکمنو ترکانو کې هم د قومپالنې خوځښت زور نیولی و او د پان ترکیزم په نوم مفکورې په ځوان نسل کې په خپرېدو وې.

کله چې په ۱۹۱۴م کال کې لومړۍ نړیواله جګړه پیل شوه، عثماني خلافت د آلمان په ملاتړ جګړې ته ننووت . په همدې وخت کې د" عربوپاڅون "په نوم د عثماني ترکانو خلاف پاڅون وسو چې د حجاز والي امیر حسین بن علي یې مشري کوله .انګریزانو هغه د لویې عربي واکمنۍ په ورجوړولو تېر ایست، د عثماني دولت خلاف یې بغاوت وکړ چې د شام خلک هم ورسره یوځای سول.

د جګړې پایله د عثماني ترکانو او آلمان ماته او د بریتانیا او فرانسې بری و.دغه وخت چې عثماني ترکان له عربي ځمکو په شا سوي وو، د دې پر ځای چې د عربو په خاورو یو متحد حکومت جوړ سي، عربي سیمې د سایکس پیکو تړون او د بالفور اعلامیې له مخې د بریتانیا او فرانسې ترمنځ وویشل سوې، چې په هغه کې فلسطین د یهودانو له پاره په نظر کې نیول سوی و .له همدې ورځې شام د سورېې، لبنان، فلسطین او اردن په نومونو څلور ټوټې سو.

په ۱۹۲۰م کې د سورېې ملي کنفرانس فیصل بن حسین د سورېې پاچا اعلان کړ .په همدې کال کې د سان ریمو کنفرانس پرېکړه وکړه چې سوریه به د فرانسې تر ولکې لاندې راسي .فرانسې فیصل ته اخطار ورکړ چې فرانسوي اشغال ومني او د سورېې پوځ منحل کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**فرانسې د دمشق پر لوري پوځونه واستول .فیصل د ولس په ملاتړ د جهاد اعلان وکړ . د فرانسوي پوځ او د سوريې د دفاع وزير يوسف العظمه ترمنځ د ميسلون په سيمه کې سخته جګړه وشوه، خو د فرانسې پوځ بريالی شو او دمشق يې ونيو.**

**له دې وروسته، فيصل دمشق پرېښود، فرانسويانو په بشپړ ډول سوريه ونيوله .فرانسې سوريه څلور برخې کړه : دمشق، حلب، د علويانو دولت، او د دروز دولت.**
**د دې اقداماتو په وړاندې شاميانو مقاومت پيل کړ .په ۱۹۲۵م کال کې د دروزو پاڅون د فرانسويانو پر وړاندې پيل سو، چې ځينې سيمې يې ونيولې هغوی په څو جګړو کې بريالي سول، خو فرانسويانو په سختۍ سره دغه پاڅونونه وځپل.**

**وروسته د سوريې له پاره ملي حکومت په نوم حکومت اعلان سو خو فرانسويانو دا حکومت په ۱۹۳۰م کې منحل کړ .فرانسې په ۱۹۳٦م کال کې د يوې معاهدې په ترڅ کې سوريې ته مشروط استقلال ورکړ .په ۱۹۴۱م کال کې د ملي مقاومتونو او نړيوال فشارونو له امله، فرانسې سوريې ته تر پخوا ډېر استقلال ورکړ، خو خپل پوځونه يې وساتل.**

**په ۱۹۴۳م کال کې شکري القوتلي د سوريې د خپلواک جمهوريت لومړی ولسمشر وټاکل سو، تر دې وروسته په ۱۹۴٦م کال کې فرانسې خپل پوځونه له سوريې وايستل، چې د سوريې بشپړې آزادۍ ته يې لاره هواره کړه.**

**تر استقلال وروسته، په سوريه کې د پوځي کودتاوو يوه سلسله پيل سوه .په ۱۹۵۸م کال کې په سمبوليک ډول د مصر او سوريې يووالی اعلان سو، خو په ۱۹٦۱م کال کې دا يووالی د يوې پوځي کودتا له لارې ختم سو .بيا د ۱۹٦۳م کال د مارچ په ۸مه" د بعث عربي سوسيالست ګوند "کودتا وکړه .دا ګوند زياتره د غير اسلامي اقليتونو له غړو جوړ سوی وو، لکه نصيريه، دروز، او عيسويان.**

**د بعث واکمنانو په ښکاره توګه د اسلام پر وړاندې مخالفت اعلان کړ، دوی به ويل عربيت زموږ دين دی .د بعثيانو په واکمنۍ کې د امين الحافظ له سقوط وروسته د نصيريانو او دروزو نفوذ زيات سو او د سوريې اصلي واکمن سنيان حاشيې ته لاړل، د بعثيانو لومړۍ کارنامه دا وه چې د ۱۹٦۷م په جنګ کې) هغه وخت چې حافظ الاسد د دفاع وزير و (د جولان ستراتيژيکه سيمه يې اسرائيلو ته وبايلله .وروسته د حافظ الاسد په واکمن کېدلو سره په سوريه /شام د ظلم، بې دينۍ، استبداد او وحشت يو داسې حالت راغی چې شايد دې مبارکې خاورې يې کله هم ساری نه وي ليدلی.**

ketabton.com - The Digital Library

**حافظ الاسد له ۱۹۷۰م څخه تر ۱۹۹۸م کال پورې په سوریه واکمن و، حافظ الاسد چې نصیري ریښه یې درلوده په تدریج سره یې په واکمنۍ کې د هغو سنیانو واک کمزوری کړی چې د اتیا فیصده اهل السنة سره یې اړه درلوده .حافظ الاسد د استخباراتي اصولو په اساس واکمني چلوله او هر مخالف ږغ یې په ډېر ظلم او تشدد سره سرکوب کاوه .د ده په وخت کې شام په تېزۍ سره د کفر، الحاد او سیکولریزم لور ته روان و .فساد او رشوت د سیاسي، اداري، قضایي او اقتصادي چارو ټولې برخې ونیولې او خلکو سخت کړاوونه وزغمل.**

**د حافظ الاسد د استبداد په وړاندې د شیخ مروان حدید او د اخوان المسلمین ګوند د ځینو سرلارو په مشرۍ فکري مقاومت روان و، تر دې چې دغه مقاومت د پاڅون کچې ته ورسېده، په ۱۹۸۲ م کال کې حافظ الاسد د حماة د مسلمانانو احتجاج د ټانګونو او جنګي الوتکو په مټ سرکوب کړ، حافظ الاسد په حماة کې په ۱۴ ورځو کې تر څلوېښت زره زیات بې ګناه مسلمانان قتل عام کړل .دغه راز یې لسګونه زره مسلمانانو زندانونو ته واچول .د حافظ الاسد مظالم خورا هیښوونکي دي، له دې جملې د نوموړي په لاس د ۲۵ زره مسلمانانو اعدام هم د یادولو وړ دی چې په ډلییزو قبرونو کې تر خاورو لاندې شول.**

**حافظ الاسد د خپلې ظالمانه واکمنۍ د دوام له پاره خپل مشر زوی باسل روزلی و، خو هغه د نوموړي د ژوند وروستیو کې په یوه ناڅاپي حادثه کې ووژل شو، نو ځکه یې خپل دوهم زوی بشار الاسد خپل ځایناستی وټاکه .بشار الاسد هم د پلار تګلارې ته دوام ورکړ، په ځانګړې توګه په تېرو ۱۳ کلونو کې یې د خپل استبدادي واک د ساتنې له پاره نه یوازې ټوله سوریه ونړوله، بلکې په میلیونونو خلک یې شهیدان، مهاجر او بې کوره کړل .نوموړی په عربي نړۍ کې د ظلم او نفرت سمبول و چې سقوط ته یې شیبې شمارل کیدې.**

**د بشار الاسد په وړاندې چې ۱۳ کاله وړاندې د عربي پسرلي په لړ کې یو ځل بیا قیامونه پیل شول، سره له دې چې نوموړي دغه قیامونه په ډېر ظلم او تشدد وځپل، اما د تحریر الشام ډله چې د څو د جهادي ډلو یوه ایتلافي تشکیل دی په دې وتوانېد چې تر دې وخته د سوریې په شمال ادلب کې مقاومت ته دوام ورکړي.**

**بالاخره څو ورځې وړاندې همدې ډلې د بشار الاسد د حکومت خلاف د ردع العـدوان په نوم تهاجمي عملیات پیل کړل، هیڅا تصور نه و کړی چې دغه تهاجم به دغسې حیرانوونکي نتایج ولري .حلب او حماة مهم ښارونه یو په بل پسې فتح شول او د یکشنبې په شپه چې رسنیو د حمص د سقوط وړاندوینه کوله، سهار د دمشق د فتحې او بشار د تېښتې خبر سر ټکی و.**

**په دې ډول شام یو ځل بیا خپلو مالکانو ته په لاس ورغی، هوکې ، شام یو ځل بیا شام او دمشق یو ځل بیا دمشق شو .نور به د شام او دمشق د نوم له یادېدو سره د چا ذهن ته د بشار الاسد، حزب البعث او حماة د قتل عام تصورات نه ورځي .بلکې د اسلامي شام د علمي، جهادي او فرهنګي عظمت یادونه به ورسره تازه کیږي.**

ketabton.com - The Digital Library

**د دمشق فتحه او د بشار الاسد د واکمنۍ پای يوازې د کوم حکومت تبديلي نه ده، بلکې د اسلامي نړۍ د هغه ورک جزء بيرته راستنيدل او د مسلمانانو لاس ته لوېدل دي چې شاوخوا شپږ لسيزې ورباندې د پرديو اجيران واکمن و او خپلو اصلي مالکانو په کې د بې کورۍ احساس کاوه.**

**قاري عبدالستار سعيد**

**...**

ketabton.com - The Digital Library

## ماخذونه


۱: قران کریم

۲: احادیث

۳: نعمت الله شاکر

۴: عبدالستار سعید

۵: ډاکټر ستوری

٦: سير أعلام النبلاء للذهبي

۷: حياة الحيوان الكبرى/الدميري

۸: معصوم خان

۹: حسیب نورمل

۱۰: اشرف الدين عظيمي

۱۱: فتح الباري

ketabton.com - The Digital Library

# سید احمد سعادت



## دليکوال په اړه

ښاغلی سيداحمد سعادت د فدامحمد زوی په کال ۱۲/۱۲/۱۳۷۸ هجري لمريز کال
د کندهار د ډنډ ولسوالۍ د زوړ ماشور په کلي کي زيږيدلي دي .
هغه خپلي ابتدائيه ديني زده کړي د کندهار ولايت د ۱۴ ناحيي په حميديه مدرسه کي کړيدي
اوخپلي عصري زده کړي يې تر لسم صنف پوري په حاجي مرويس خان ليسه کي کړيدي
او پاته زده کړي يې په مشرقي عالی ليسه کي سر ته رسولي دي
نوموړي په ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ کال د مشرقي عالي ليسي څخه فارغ سو .
هغه خپلي لوړي زده کړي په کندهار پوهنتون کي کړيدي
نوموړي په کال ۱۳۹۸ د کندهار پوهنتون د جغرافيه څانګي ته کامياب
او په ۱۴۰۲ ه ل کال کي د ياد پوهنتون څخه فارغه سو

## اثــــــار

۱ حجاب او ځواني ۱۴۰۲
۲ د ډنډ ولسوالۍ تعليمي وضعيت ارزول ۱۴۰۲
۳ ستا تصوير ۱۴۰۳
۴ ژوند دي ناکام ماخستن ۱۴۰۳
۵ زړه په خيالو کي ۱۴۰۳
۶ په لاس کي ملغلره ۱۴۰۳

## تر لاس لاندي اثار

۱ د سعادت خبري ( شعري ټولګه)
۲ د حيواناتو دفاعي سيستم

14 04

سید احمـد سعادت

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*